راز

عبدالله بختانی

پښتو ټولنه

35

د پښتو ټولنې د خپرونو لمبر: (١٣١)

راز

PROPERTY OF ACKU
2111

د

عبد الله بختاني خدمتگار

د اشعارو د رحمه مجموعه

پښتو ټولنه
کابل-افغانستان

د١٣٢٦ ه ش د زمري مياشت

د چاپ شمېر: يو زر نسخې

کتاب فروشی خاور
بو... سټی تازه شاهين تازه
... متصل تهانه پوليس
... کلانه ٢ پشاور
b

اهداء:

مین زړه ته

د ښاغلو حفیظ الله میداني او محمد شیرین

خوږیاڼي په اهتمام او تصحیح چاپ شو.

تقریظ

دراز چه دښاغلی بختانی داشعارودوهمه برخه ده زما خو ښه شوه او څنیې اشعارئې دډیرې ستاینې وړدي دبختانې په شعر کښې ساده ګی، روانی اوله ژوندانه سره ښه ارتباط شته څکه یې ښه ګڼم او په ښه نظر ورته ګورم.

زه په شعر کښې جرئت اوجسارت هم خو ښوم او د اجتماع ستر ګو ته خلی وروړل ستا یم په دغو اشعارو کښې دغه صفت موجود دی او د وطن مینه، د ملیت احساس، په خوا ر غر یب بانـدې زړه سـو ی پـکښـې ډیره اغیزه لری. ددې اشعا ر و یو ښه ا ړ خ دادی چه اسلامی او پښتنی رنګ پری غالب دی اواصلاحی جنبه ئې زوروره ده که بختانی دچایه عقیده له ګلو نونه ښکلې دسته دنمودا و دنظر دخوشحالی دپاره نه وی جوړه کړې نود د رد منو زړونودعلاج دپاره خوئې ګل قند جوړ کړیدی.

داشعارومعنوی ښایست په ظاهری ساده توب کښې پټ دی څکه ئې دیر ظاهر بین خلق حقیقت ته نه ملتفت کېږی.

دبختانی اشعار ساده دی مګر دساده ګانو له فکر او فهم نه لوړدی بختانی پخپله هم خپلو اشعار وغوندې دی چه ظاهری لباس اووضع ئې نظر را نښکو نکی نه معلومیږی مګر چاچه ده په باب سمه مطا لعه کړیده ده اخلاقی اوادبی شخصیت ته په ښه نظر ګوری او قدرئې کوی.

ګل پاچا «الفت»

تقریظ

دښاغلی «بختانی» داشعارو دامجموعه (راز) ما په یوتنګ وخت کښی تر یوه ځایه ولوسته. زه دبختانی داشعارو سره پخوانه هم بلد تیا لرم ځکه ماته څه ډیره اډتیا نه پاتې کیږی چه څکی په څکی ئې ولولم دی دشعر په ویلو کښې په سمه لار روان شوی دی.

شعر ډیر وافظی او معنوی خوبیو یوه مجموعه ده.

په شعر باندې ډیرڅه ویل شوی دی، او ډیری ویل کیږی، او ویل یږې په کار دی خو په دې ځای کښې له هغو ډیروڅخه دومره ویل به بنه وی چه سړی ووائی:

شعر دخبرو هغه خوږه مجموعه ده چه تاثیر، افادیت او معنویت ولری دبختانی په شعر کښې دمعنویت او افادیت خوا ښایسته قوی ده. دی په شعر کښې څه ویل او څه یوهول غواړی. په دغه لحاظ سره لوستونکی هڅه لری چه دده داشعارو له لوستلو څخه لاس وا نخلې او د یو پسې بل ولولی په بې معنی او بې فائدې خبروئې اشعار نه دی لیکلی!

دتاثیر او خوږ والی په لحاظ هم دبختانی اشعار بې برخې نه دی ځینی غزل او نظمونه خوږې ډیر روان او خوند وردی، خو په ځینو کښې څه لږې شانې لفظی او ادبی خبرې کیدی شی:-

دبختانی صاحب اشعار دساد ګی په ګانه خو متحلی دی مګر ...نقد دغومره ویلی شی چه داحسن د عریان حسن ،دی، حال دا چه دغزل، نظم او ادبیاتو ښکلا د پاره عریانی په جدا بیت کښې لږ کمی راولی.

مګر په دې اشاراتو زه دبختانی روکی دشعر دقیمت ټیټول نه غواړم خپله نظریه لیکم، او غواړم چه دی او ده په شان نور ورځ په ورځ مخ په لوړه ختونکی پښتانه شعراء او لیکوال خپل خوند ور فن له خپلو اسلا فوڅخه. لوړې پوړۍ ته ورسوی.-

اګر پدر نتواند پسر تمام کند قیام الدین خادم

بسم الله الرحمن الرحيم

پسرلی دی؟

خلك وايي پسرلی دی ښایسته شوي دي باغونه
په صحرا کښې بې باغوانه راشنه شوي سره ګلونه
بې دردان مستي نه خاندي داسمان وریځې ژاړي
د پریشانو لړزانه په مستي ځي دك سیندونه
څوك خندا کړي له خوښۍ نه څوك له غمه ځني ژاړي
بلبل ګل ته هسې وويې شاعر پوه شي له مضمونه
په بهار کښې نامراده د حسرت په توسلګو کښې
پو هیم زړه تري خبر یدی ش نه خبر یږي غافل زړونه
غوږ نیسو پسې رو یږي دغوټۍ زړه ځکه تنګ دی
په جلوې مه ناز یږه ځان خبر کړه له ژوندونه
دغاټول د زړه داغو ته د نظر خاوند چه ګوري
پسرلی کښې ور څرګند شي د مین زړه رازونه
څوك پري پوه شو څوك پوه نه شو په وینا دې بختانیه!
چه قدرت دې پوره نه وی خلمه وايې غزلونه؟

چلال کوټ ـ د ۱۳۳٤ هـ ش د حوت (۱۰٤)

یو تمثیل :

دخدای خلیفه

دبشر دابادی ځنې پخوا
په قرنو قرنو ودا نه وه دنیا
اسمانونه ووهم لمر اوهم سپوږ مۍ وه
رڼې ورځې وې هم توره ترږ مۍ وه
دجمال دمناظرو ننداري وې
دجلال دمظاهرو منظري وې
مځ دزمکې بېښا يسته وو په ګلونو
دريا بونه په مستی وو له موجونو
دسهار غوټی نسيم ته که خندلای
هيڅوك نه وچه خندا ته ئې کتلای
هم ګلونه هم بورا هم بلبلان وو
تازګۍ وه خو باغونه بې باغوان وو
دد يوې دسوزېدو په انتظار کښې
پتنګ ناست وپه سودا سترګې په لار کښې
منتظرو چه تاوده شی محفلونه
عشق دحسن له جلوو کړی طوافونه
نو دزمکې تورو خاو رواو اوبونه
لوړو غرونو اودرو اودريا بونه

لههوا او نباتاتو جما داتو
مختلفو عناصرو او ذراتو
ارادهشوه پهترکیب دیو معجون
دخالق دحکمتو په ننداره تون
دمادي‌سره همغاړه ئي‌معنا کړه
توره خاورهئي معنا سرهرڼا کړه
بیائي وګاڼه لایق دخلافت
ددي زمکي دشاهی اور یاست
خوچاووي چهدیږك دیله فساده
مادیت ورسره ملدی لهبنیاده
دده‌کار بهوی دوینو تویول
دډوډی پهسردیو اوبلوژل
ربووي پوهیمه ترتاسو پخپل کار
سودامه کوئ پهدغه سمهلار
بیاالباس ئي دهستی کړوډپه غاړه
وي ملکوته سجدي کړئ ورته واړه
نودخیر ملکو ښکته کړل سرونه
دنمانځنې ئي‌په ځای شول تعظیمونه
یوشریر عنصرچه بو لیئي شیطان
اباوکړه وئي‌نه مانه فرمان
هیڅ‌ئي‌ونه‌کړ عزت اواطاعت
غږئي‌پور ته‌کړ در شك او عداوت

مخالف ئه‌نصر رقیب دفضیلت شو
سړیتوب په‌لار کښې دالوی مصیبت شو
انسان ننوت جنت ته‌په‌اکرام
هلته‌وکړیو څوورځې ښه‌ارام
داد خدای له‌لورې ښه‌مهر بانۍوه
خوګمان کړم دڅو ورځو مهمانی وه
هلته‌هیڅ دژندګۍ نه‌وو کارونه
نه‌سودا نه‌اند یښنې‌وې نه غمونه
دسکون اوارامۍ چوپه دنیاوه
دعیشونو اوسیلونو سینماوه
نه‌دګېډې څه سودا اونه وسواس‌و
نه‌څه‌غم دمعیشت‌نه دلباس و
یودعیش اودنشاط زندګانی وه
خوشا لۍ‌وه کلاری‌وه ارامی وه
څوک‌چه کارمخکښې لری‌عیشونه نه‌کړی
«څوک‌چه‌لار مخکښې لری‌خو یونه‌نه کړی»
دجنت دسروګلونو په‌ګلشن کښې
دراحت او فرحتو نو په‌وطن کښې
دارزو واکۍ‌له لاسه‌ئې بهرشو
په‌تسکین دخواهشا توباندې سرشو
دلمسون په‌رنګینیو غولیدلی
دقانون ترسرحد ونو تیرېدلی

دخلقت په درامه کښې لوبېدلی
دحیات په افسانه کښې پرزېدلی
دپرسپېڅلی اواده و په فطرت کښې
ځانئې تورکړ لوپه رنګ دمعصیت کښې
ارامی تهمخه شه کړه سمدلاسه
ګویا کوز شو تورې خاورې ته له پاسه
ورسره دشر عنصر شولو همغاړه
ترقیامته به لوبېږی دغه دواړه

ای عاقله فکروکړه په مثال کښې
لزڅه ځیر شه په کار ودذو الجلال کښې
دانسان په خاور وختو او فطرت کښې
دخالق په کار ناموا و په قدرت کښې
هم دفرد اوجامعې په ارتباط کښې
دقدرت دقوا نینو انضباط کښې
چه بشر له موره زېږی بی خبروی
څوك بوه نه وی چه به خیر او که به شروی
دالفت او محبت غېږ کښې لو ئیږی
نه پوهیږی ورځې شپې څنګه تیر یږی
چه پیدائې دخوړ وڅه اشتهاشی
دمورتی ورته په خوله کښې مهیاشی

غېږ دمیندو جنت لکه بلبل کېږی
دشودو ویاله همدغلته بهیږی
چه څوګټ شی د ماشوم په نوم یادیږی
د معصومو له ټولو لکی سره لو بیږی
غم نه پېژنی خوښی سره ئې کاروی
ته به وایې چه جنت کښې ئې روزګاروی
کوم ساعت چه بلوغت ته ور سیږی
دشیطان په لمسه هرساعت غولیږی
نه هغه معصوم انسان نه ئې جنت وی
سروکار ئې له ګناه او معصیت وی
څوچه پوخ شی بیا نو پوه شی په کارونو
توبې وباسی له ټولو ګناهونو
بیا دخدای دخلافت په ادا روکښې
دخپل توان سره شامل شی په کاروکښې
هم دځان دپاره کار کړی هم انسان ته
هم ئې ګورته خیر رسیږی هم جهان ته

***

دادفرد دسوانحو سلسله ده
جامعې دپاره عین مسئله ده
دخلقت په ابتدا او انتها کښې
دتاریخ په پرونی او نن سبا کښې

داقیصې او قسالې او سلسلې دی
گومان مه کړه چه دا خوشې مسئلې دی
دبشرما شوم لو ئېږی با لغیږی
بیا درشد او د کمال حدته رسیږی
بیا ضعیف شي دا دوره د انحطاط وی
نه ئې فکر اوحرکت نه څه نشاط وی
بیا نو مړ شي چه وتلی وی له کارنه
د پر وی ستړی زما نې اوله روز گار نه
څوک چه مړ شو په هغه باندې قیا مت وی
څه فرق نه لری که فرداوکه ملت وی

دانسان د تحول په سلسلو کښې
دژو ندون دپسر لو په اوښتو کښې
دارزو په ناتمامه اضطراب کښې
دامید په ناکلاره لوی در یاب کښې
د ارمان په بې سا حله سمندر کښې
دطلب په نا معلوم غوندې گودر کښې
دهیلو په بې ساروانو قافلو کښې
دتپش په بې کاروا نو منزلو کښې
دشعور په بلا کیفه اراده کښې
دضمیر په نا بللې عاطفه کښې

دحیات په دې رنګینه درامه کښې
دانسان دغه دلچسپه افسانه کښې
دعبرت د پرې صحنې دی څه هوښیار شه
دژوندون له کشمکش نه خبردار شه

انسان غواړی چه دنیا نه جوړ ګلشن کړی
دجنت غوندې ښایسته داخپل وطن کړی
خودګیدې په سوداکښې چه اسیر شی
دخپل ځان په اندیښنوکښې یو ځل ګیر شی
دتعمیر په ځای تخریب ته هوسیږی
دژوندون په سمه لاره کښې ښوئیږی
زور دحق په ستونی خیژی چه برباد شی
حق مغلوب شی اوغالب پرې استبداد شی
چه حق وایی هغه خلك خواراوزار شی
چه حق غواړی نو دهغه نصیب خوار شی
دمظلوم غوښې په اور باندې کباب شی
دغریب وینې ظالم ته دوره شراب شی
دادظلم په تورتم اوپه تیاروکښې
دانسان دزخمی زړه په ټرارو کښې
دبدبخت انسان له خاورې اوځمیر نه
داغرخیژی له اعماقو دضمیر نه :

دا نسانان دی یوتر بله سره ورونه
خلاساتیء داکینی اونفرتو نه
راشیء راشیء چه‌ودان کړو دا جهان
پکښې وروزود مینې سره گلا ن
دجمال اودکمال په‌نند ا رو کښې
دوحدت اومحبت په اشا رو کښې
دا یثار او دخد مت په‌احسا ساتو
دا نسان دشرافت په‌جذ باتو
یودبل دښمنی پر یږدو مینان شو و
له عظمت او سر یتوب سره انسان شوو
په‌یو رپ کښې کو زنی‌که پاسنی دی
که روسی‌دی که‌چینی امریکنی دی
که هندی دی که مصری دی که‌ایران
که‌عرب دی که مغول دی که‌افغان
اوکه‌نوردی دورو دی په اساساتو
ددوستی روا داری په‌رموزاتو
سره تینګک کړو عدالت اومساوات
دیپرزوپه سیاست‌کړوا جراآت
دا نسان په نوم جهان لره معمار شوو
بې له‌حرصه خپل گلشن لره ما لیارشو و
سریتوب سره دمینې فیصله کړ و
حرص و آزسره پوره مجا دله کړو

حریصان به تر قیامته مجرو میږی
دانسان بیړی له دې بلا دوبیږی
د جهان په دې ظلمونو اوجبرونو
یوبه بل به دې نا دودو یر غلونو
بندگی دسر مایې او ددولت کښې
دې فریب او چل اول دسیاست کښې
دبشرد سعادت زیری حرام دی
انسانی فطرت لەدې غمه سر سام دی
دسبا نسیم خوره داهنگا مه کړی
دادژوند نغمه بدله زما نه کړی
دحیات ددریابونو له زوری
اخراوځی ښې روښانې مرغلرې
انسانځی دسرېتوب عالی مقام ته
دخوښی اواطمینا ن دارا لسلام ته
دغه راز دتجدد اوانقلا ب دی
دانسان دخلا فت داسې حساب دی
تحول په ژو ند انه کښې ارتقا ده
محبت دسرې یتوب دزړه رڼا ده
محبت سره دنیا مومی نظام
خلافت کښې دغه روح دی و السلام !
داسلام دبختا نی په هغه چاوی
چه دصلحې اوسلام په تمناوي بختیا ن، د۱۳۳۵ دحمل (۲۰)

دشاعر کرامت

زړه خو هغه زړه دی چه ژوندی وی محبت سره
سر هغه سر ښو له چه نیشه وی لغیرت سره
مینه پښتنه لرم پښتو باندې مین یمه
زه یمه پښتون دپښتوالی له همت سره
سر به تري نه ځار کړم چه یه زړه مینه دقام لرم
نه یم سود اګر چه مي سود اوی له دو لت سره
مال ګټل ایمان بایلل ؟ سر ګټل اوزړه بایلل؟
سرمي نه خلا صیږی دنا صح دې نصیحت سره
چرګو ناري وکړې دسحر رڼا خوره شوله
زار یم لکه شمعه چه مي قام دی له غفلت سره
شمعې په روستو سلګو نیم سوز پتنګ ته داویل :
ژوند په سوز وساز کښې دی دمیني حرارت سره
غږ داذان و شو پوه شو م زه اﷲ کبر ځني :
مه منه لویی دهر چا مه اوسه ذلت سره
پاخوه ملګری بختا نیه په خو ز ونغمو
ډیر مړه ژوندی شوی دشاعر له کرامت سره

بختان ، د۱۳۳۵ دثور (۲۰)

ملی ترانه

(په غربی آهنگ)

(۱)

ئې وطن، دافغان، ئې زانګو، داریان، په مونږ ګران .
د پر د پر، لکه ځان ، ځان ، ځان تل مدام، ئې ودان.
پا ځه ،شه روان ، په طر ف، دلوړ تیا ،اې و طن !!

اې پښتنو!، کړی، اتحاد، پا ځېږی، زر،
زر ، زر، زر

ځا ن کړی، ښکاره په دنیا
شی، له وطن ځنې فدا
او، او، او، او نګیا لو

(۲)

داوطن ،داهواد ، دا ګلشن، دمراد، دی زمونږ.
ټول، ټول، کوو ځان، ځان، ځان، ترې قربان، هرزمان
کارزیار ،دی زمونږ،چه کړ ولوړ، لکه لمر.دا وطن.

اې مېړ نو !، ځی، په تلوار . پاځی، اوچت،
زر، زر ، زر

پا ځيء دازړه داپښيا
جوړ کړيء جنت دد نيا
اي، اي، اي، پښتيالو

(۳)

دافغا ن، اقتدار ، دپښتون، ، افتخار، اي وطن.
ټول ټول، په ښه شان، شان، شان دی پرا ته ، ستا په زړه .
ټول وا ك، نوم نشا ن؛ ننګك ناموس ، دی شريك ، د افغان .

يو مسلمان ، ټينګك ، پښتا نه، پرتا مين
ټول ، ټول ، ټو ل

تا به کړو لوړ په جهان
کوو دا عهد وپيمان
اي، اي، اي ، ا فغا نستا ن

بغمان ؛ ده ۱۳۳۵ دجو زا(۱)

داڅه وشوه؟

څومره په مستۍ کښې مې غمونه دي ؟
څو پر ما بې واره ئې وارونه دي ؟
زړه دفلك پخ نه شو کاڼې کوي
ما باندې پل کړي سره اورونه دي
پورته توره وريځ له اوياوې شوه
خړ اونا انجام ئې سيلابونه دي
چېر دحوادثو کښې تنها ګير يم
ډېرې ستوماني کښې مې لاسونه دي
توره شپه بوګنيزي له دغې تيارې
مخکښې ترقيامته قيامتونه دي
روح دزندګۍ وم دپېغور شومه
څه په پرکالي کښې تقديرونه دي
چاته مخکښې کښېږدمه دغم کتاب
ډېرې شوخې سترګې اوغوږونه دي
غم دپامه غم دخولې سبق مې شو
څنګه زمانه څه ئې کارونه دي ؟
اوس لاهم نيشه يم له غيرت سره
سر کښې مې دګران اشنا خيالونه دي
څوك چه له بې نيازونه ياري غواړي
هسې بغتانيه ! اميدونه دي

بختان ، د ١٣٣٥ د سرطان (٣)

(۱۵)

سور افق

دا یه افق کښې مې آهونه سرۀ دی
که له وینو تاوه آسمانونه سرۀ دی

وریځې سرې او هوا سره ښکاریږی
دا باسین واړه موجونه سرۀ دی

همیش به نه وی پر هر ژلی بهار
ورته برقونه تو فانونه سرۀ دی

د هر اغزی په ځای به گل وکړو
د چه پرې راتلونکی سیلابونه سرۀ دی

دې سپېرو خاورو کښې مې وینې وینې ؟
لار کښې پراته درته لالونه سره دی

تور او تور والی نه توریږمه زه
دغو کیسو نه تاریخونه سره دی

پښتو وینو سر خروئی مزه کا
د شهیدانو بیرغونه سره دی

د سرۀ بیرغ او سرۀ کفن نه لاندې
پټ له بې غورو زخمی زړونه سرۀ دی

اې پښتانیه ستا غزل د پاره
دا قافیې او ردیفونه سرۀ دی

پښتنان ـ د ۱۳۳۵ د سرطان (٦)

ملی غرور

له اموترا اباسینده دادسرو گلو گلشن دی
دازمونږ ښکلی وطن دی دازمونږ ښکلی وطن دی
له دې خاورې نه پیدایو دپښتون بابا له نسله
سر به خاورې کړو له خاورې چه ارین یومونږله اصله
دښاغلو سړو کوردی موقع نشته خاروخس له
پښتیانا موز یږ نتو ن دی پښتیاناز مونږ مدفن دی
دازمونږ ښکلی وطن دی دا زمونږ ښکلی وطن دی
پښتیاناموزیږ نتون دی بلهیکا زمو نږ زا نگو ده
له هرات اوکندهاره ترجیلمه موا ور شوده
دکابل نه پېښور ته خیبر لار دتلو راتلو ده
پښتنی جوپې چلیږی که سهارکه ماسخوتن دی
دازمونږ ښکلی وطن دی دازمونږ ښکلی و طن دی
دچترال او چته لارکښې لیاروانې قافلې دی
دهرات په ارته زمکه مولرغونی سلالې دی
له پامېرنه اباسین کښې د موجونو سلسلې دی
دکا بل په شنو کبلو او س هم شین زمو نږ چمن د ی
دازمونږ ښکلی و طن دی دا زمو نږ ښکلی وطن دی
لیادیوان اوښاپیری شته په کونړ اوبدخشان کښې
دپښتو ډیوه ده بله ننگرهار بلوچستان کښې
زمونږ نخښې دی لیا پاتې په بگرام اوپه سیستان کښې

په خټکو اوډېرو کښې هاسی تو د لیا انجمن دی
دازمونږ ښکلی وطن دی دا زمونږ ښکلی وطن دی
دسوری شیرشاه دتورې نشانې دی راسره
دغوریانو دستاینو ترانې دی را سره
دسهاك بابا لهٔرخته افسانې دی را سره
خاطرې بیٔهېرې نه کړو څوچه روح مو په بدن دی
دازمونږ ښکلی وطن دی دازمونږ ښکلی وطن دی
دلته بېټ نیکه خښ شوی درحمان هلته مزار دی
خوشحال هلته دی اودلته احمدشاه بابا سر دار دی
ایمل هلته کښې اودلته میرویس خان نیکه نامدار دی
چه پښتو زمونږ یوه ده نوشریك مو روح اوتن دی
دازمونږ ښکلی وطن دی دا زمونږ ښکلی وطن دی
په پښتو او پښتنوالی په پښتون پښتونستان
داسلام ددین رڼا کښې مونږ کوو عهدو پیمان
چه په لار دازادی کښې مونږ فدا به کړو خپل ځان
داتړون دی بختانیه سور بیرغ یا سور کفن دی
دازمونږ ښکلی وطن دی دا زمونږ ښکلی وطن دی

کابل ــ د۱۳۳۵ داسد (۳۰)

✿✿

ملی ناموس

ملی ناموس د پښتنو پښتونستان دی
سر به ترې ځار کړو دا زمونږ عهدو پیمان دی

دنیا روانه ده دعدل فیصلې کوی نن
دا زا دی کتاب نه غو رې مسئلې کوې نن

دنوی عصر هرز لمې دا و لو لې کو ی نن
دازادی دی مستحق څو ك چه انسان دی

داستبد اد اوا ستعمار تیا ره وختو نه تیر شو ل
داسا رت اوغلا مې زا ړه د و ر و نه تیر شول
دزو رو ر وېر کمز ور وفشا ر و نه تیر شو ل
څوك چه دبل په‌مری خیژ ی کډرئی ور اړ ان دی

نوی سبق نوی مضمو ن نوی کتا ب وگو ره
نوی عنوان اونوی فصل نو ی باب و گو ر ه
دزمانی نوی دفتر نوی حساب و گو ره
چه‌نوی درس دچازده نه‌و ی دیر نا دا ن د ی

دسرږ یتوب دقو انینو طلبگا ر پښتا نه
دملیت داسا سونو طرفد ار پښتانه
دخپل ولس له حریته ځنې ځار پښتا نه
دحق یه‌لار کښې موور کړی امتحان دی

دچا بد نه غواړو دټولو سعادت غواړو مونږ
مونږ انسانان یو له دنیا انسانیت غواړو مونږ

ټینګ پښتانه یو پښتنو له حکومت غواړو مونږ
دامو ارزو دامو هدف دامو ایمان دی

تېر پدی نه شو د پښتون له حربته ځني
اوښتی نه شو د انسان له کرامته ځني

په تبلیغو به و یښو قام له غفلته ځني
ملګرو پاڅئ چه ملي کاروان روان دی

چه عدالت وی پکښې هغسې جهان خوښوو
مونږ پښتانه یو نو ضرور پښتونستان خوښوو

چه وطن نه خرڅوی هغسې خانان خوښوو
ای پښتانه پښتنو ته دا اعلان دی

کابل ـــ ۱۳۳۵ د سنبلې (۱)

ځوانه

دا ځنګه مسلمان ئې چه قرآن نه پېژنې؟
په ښه د سر و یې خو انسان نه پېژنې ؟
په چرسو په جوار یوسل کېږ هیڅ دې ته نه ښکاری
غریب ته د یوې پیسې تاوان نه پېژنې
هستې دې کړه برباده په تری او چکه یوکښی (۱)
وطن به څه وپېژنې چه ځان نه پېژنې؟
یوځل که پکښې کېږ شوې بیا سجدې کوې هرچا ته
ناظر او حوالدار او حاکمان نه پېژنې
له ځانه خبر نه ئې رقیبان لار یوړې خانه ی
خبر به کړی یاران (نصر افغان) نه پېژنې
کابل ـ د ۱۳۳۵ د سنبلې (۹)

---

(۱) ـ د جوارۍ اصطلاحات دی ـ تری د ګټلو ، چکه او یو د بایللو نخښې دی.

جوار گره

چه پورتر سلوواوونت نو وهي به مرغ پلو
ترې چکه پو　　ترې چکه پو

جوار گره نا مرداده　　هستي دي کړه هر باده
بې لیا ري لیونی غوندي مدام کړي ننگ ودو
ترې چکه پو　　ترې چکه پو

یو وخت لکه دخان شي　　بل وخت خوار وحیران شي
یو وخت دي زور لباس وی بلی ورځی ته شی نو
ترې چکه پو　　ترې چکه پو

سیانه نه ئي اپن ئي (۱)　　په بردو بای پوهن ئی
دژوند په کار وبار کښې پیژندلی نه شي رو
ترې چکه پو　　ترې چکه پو

جوار گرو نه بېزاریم　　جواری نه توبه گاریم
ته هم نه شي کیدی (نصرافغان) ته په پلو
ترې چکه پو　　ترې چکه پو

کابل — د ۱۳۳۵ د سنبلې (۹)

---

(۱) سیانه : هوښیار — اپن : کم عقل .

سو داد سترګو

له خوبه را پستم سوداد سترګو
او ښکلو رسوا کړمه رسواد سترګو
د زړه پرهار نه مې بهېږي وینې
یمه ویشتلی دلیلا د سترګو
چه پرهر و ته مې په غور وګوري
د اوظیفه ده دا شنا دسترګو
دیار ددر خاوري را نجه به کړمه
طبیبه ! سه غواړم دواد سترګو
داشنا سترګې اثری غو ندې دی
لېونی نه یم دبل چاد سترګو
پغلا به نه شي مرور التفات
ځکه په تلو مې ده رڼا د سترګو
اې بغتا نیه له بې نیازو ځنې
هیڅکله مه غواړه حیا د سترګو

جلال کوټ، د ۱۳۳۵ د سنبلې ۲۵

پښه

خپه ارزو دنا هیند کې شي په ظلمت کښې پښه
چه بې ننګی شی په لبا س د شجاعت کښې پښه
که لاس ئې بر شي زوروربه هیڅ صرفه ونه کړی
چه بې امني وی په جا مود منیت کښې پښه
ټګ او ټګمار ددیا نت دلیا رې غلا به وکړی
ریا کا ری که شي یردو د عبا د ت کښې پښه
تمیز د یا ر اود اغیار به شي خه ګران ځوندې
که غما زی شی په جلوودمحبت کښې پښه

جلال کوټ، د ۱۳۳۵ دسنبلې ۲۵

PROPERTY OF ACKU
2111

د زړه راز

هيڅ اېسار يدی نه شم پردو کښې زه
تنګ شو لومه تنګ په ناکردو کښې زه

زړه مې چه څه غوا ړی هغه نه مومی
ډېر ئی ناقرار کړم په غوښتو کښې زه

ګل چه پکښې نه شی دارمان غوټی
څنګه به خندا کړم پسرلو کښې زه ؟

دا چه په خو ګلن کښې مې مقام کړی
سرۀ بخری ګورم په ايرو کښې زه

نشته پخوانی ښښتنې ستر ګې اوس
څومره چه لټون کوم ژوندو کښې زه

چيرته به ئې مومم چه ئې نه مومم
ګرځم په ډېر واو په حجرو کښې زه

مينه با زاری چه شوه ارزانه شوه
پټ به شم شاړو په ميرو کښې زه

داچه سر يتوب په ماخندا کوی
نه يم بختانيه په سرو کښې زه

بختان ، د ١٣٣٥ د ميزان (٢٠)

ننداره

د ځان په ننداره کښې له‌جهانه ځنې تېرشو م
د یار په‌تماشه کښې له خپل ځانه ځنې تېر شو م

ر فعت ئې ددر بار وګه و سعت مې د نظر؟
په فکر تلمه له‌اسمانه ځنې تېر شوم

مال(۱) چېر ته‌به ئې موم ؟چاوې‌ه‌لته‌چاوې دلته
چه پوی په‌د ې مطلب شوم له‌مکانه‌ځنې تېر شوم

پرون‌ئې‌وعده‌راکړه چه سبا به سره ګورو
نن هم چه سبا نه و له‌زمانه ځنې تېر شوم

دربان‌وې‌چه خوك نشته ماوې زه‌اوته نوخو ك یو؟
هغه غر یب حیران شو له حیرا نه ځنې تېرشوم

فطرت ئې وتلاش اشنا وې کښېنه په ګلشن کښې
وز ګارنه وم سکون ته‌ګلستا نه ځنې تېر شوم

ساده وم له ازله بختانیه داسې شه‌وم
په‌کار دزندګۍ کښې امتحانه ځنې تېر شوم

جلال کوټ ،د ۱۳۳۵دمیزان (۲۲)

---

(۱)مال: دمحا ور ې سره‌سم د «ماویل» مخفف (ب)

غزل

له‌نیا زنه‌ړکه مې و فا ډېره ده
د لبره هومره ستا جفا ډېره ده

څومره چه زلفې دې واونه لری
هومره په‌سر کښې مې سو دا ډېره ده

دبلا ستر ګو بلا وخوړمه
له معشوقو سره بلا ډېره ده

زه‌در ته ژاړمه سلګۍ وهمه
ظالمه ! ستا څو مره خندا ډېره ده

ددلدا رئ حق‌دې ادانه کړله
په‌دلبرئ کښې دې ادا ډېره ده

ناصحه! ېر پرده پرونۍ خبرې
نن‌مې نیشه لیا تر پخوا ډېره ده

چا مینتو ب لو یه ګنا ګڼله ؟
تر مادهغه لیا ګنا ډېره ده

دبخثنا ۍ په‌اوز ګار نیادې څه دی ؟
ددردو غم ئې مشغو لا ډېره ده

جلال کوټ ، د١٣٣٥ دقو س(٨)

څه غواړم!

فکر دسبا حس دپرون غوا ړم
خن دیاره ستر ګې دپښتو ن غواړم

عقل چه تر عشقه و ی نیشه پکښې
عشق وی تر حسنه تماشه پکښې
هسې میخا نه کښې زه سکون غوا ړم

غواړم له سا قی نه د الفت شر اب
سوردې کړه مطر به دو حدت ر باب
ستا ذوو نغمو ځنې افسون غواړم

رنګ د محبت وی او بل رنګ نه وی
چې دسنر ګو جنګ ځنې بل جنګ نه وی
قلبه ژوندانه کښې داژ وندون غواړم

چو هه چه مزدوره شی د نیا سره
هینه چه محصو ره شی لیـلا سره
دو اړو کښې خامې ده ترې بیلتون غواړم

هغه لیو نی چه ځا ن کړی قام نه ځار
هغسې هو ښیا ر چه کړی وطن بیدار
داسې هوښیا ری هسې جنون غوا ړم

جندیه زولنو کښې ازا دی پسې
ړوت په ګـنهوا'و کښې ابا دی پسې

رنګ په شاعری کښې دامضمون غواړم
جوړ چه په زړګی کړی اضطراب راته
وینی چه په مغزو کړی انقلاب راته
تانه بختانیه دالمسون غواړم

بختان ـ ۱۳۳۵ دقوس ۱۸

داخه وایم؟

هېڅ پوهېدی نه شم چه داخه وایم ؟
ته وو وایه بد وایم که ښه وایم؟
سینه کښې پخوانه لیارسوا ومه
اوس وایې څه مه وایه نو نه وا یم
تا نه ګیله نه کړمه له ځانه کړم
خوله مې خطا اوزی چه زه «ته» وایم
خیال خو به زما وی خو تصویر دی ستا
ته مې په زړه ګرځې چه زه «زه» وایم
زه بختانی ځان سره ګڼ یږ مه
قوم په خوله «دهغه» او د «ده» وایم

ننګرهار ـ د ۱۳۳۵ د قوس ۲۵

رسواشوم

چه دعشق په اند یښنو کښې مبتلاشوم
په دې پوه شوم چه رسوا ومه رسواشوم
داخو تامې په ژړاپورې خنداکړه
ځکه زه هم په ژړاستاله خند اشوم
مستو سترګودې مستې سره اشنا کړم
اوس نووایه چه مجرم په څه ګناشوم ؟
ننداره کښې دې له ځانه خبر نه وم
هسې ستا په تماشا کښې تماشا شوم
مینه نه وه نا انجامه پریشانی وه
دومره پوه داوېږدوز لفوله سود اشوم
ما وې حل به معما دمحبت شي
دا سې حل شوه چه پخپله معما شوم
زه خوش نه یمه دهر چاپه ستا ینې
که دې واوریدل چه ستا یمه نوستا شوم
بختانیه ته خوکوره دې پښتو ته
مینتوب کښې سرتر پایه استغنا شوم
بختان ـ د ۱۳۲۵ دجدی (۲)

زیری

دګران وطن څخه جنت به شي جوړ
محفل دمینې اوالفت به شي جوړ
ظالم مظلوم به په قیصو یادیږي
یو مساوات او عدالت به شي جوړ
رانده بینا به شي له خیره سره
راڅه دعلم او معرفت به شي جوړ
اوبه به تو ئی شي په اورد نفاق
یورښتیا نی ملی وحدت به شي جوړ
شاړې میرې او کنډوالې به نه وي
دودانۍ نوی نهضت به شي جوړ
نوی لباس نوی اساس به موږ
نوې ارزو نوی ملت به شي جوړ
دخیانت واړه ریښې به اوزي
نوی قانون دصداقت به شي جوړ
ورا نورسمو نو روا جونو پرځای
نوی تهذیب او ثقافت به شي جوړ
که بختنا نیه وروالی تینګه کړو
پښتو سره افغانیت به شي جوړ

ننګرهار ـ د۱۳۳۵ دجدی ۳

د یاری ګیلې

دا چه زما ستر ګې ګناګارې دی
ځکه چه داستا ستر ګې خو نخوارې دی
مادتش کتلو په ګنا نیسی؟
څومره دغه ستا لیارې بې لیارې دی
نه شو په بنګلو کښې ستاارمان پوره
څنګه دې غوښتنې کلانکارې دی
خاورې مې ځوانی کښې ارزوګانې شوې
ډېرې دې تر پښو لاندې چه خوارې دی
ظلم داشنا ته دیاری ګیلې
دادبختانی دخو لې یادګارې دی

جلال کوټ – د ۱۳۳۵ دجدی ۲۷

سترګه

ډېر زړونه ئې وېوړل خو دیونه شوه
دادسیاسی بې حیا سترګه وه

★★★

تسل

دقام مین که خواروزاروی ـ وی دې کنه
که رقیبان ورته په قار وی ـ وی دې کنه
چه وطن غواړی نوخپل ځان ئه تېرېدل دی په کار
که ما شقی کښی دغه کار وی ـ وی دې کنه
چه حق دپاره دحق نو م دچا تر خولې را اوزی
که دمنصور غوندې په داروی ـ وی دې کنه
چه څوك نیشه د پښتنې غېرت په سرکښې ساتی
که تمام عمر کښې ازاروی ـ وی دې کنه
چه دشرابو په ځای تل ئی دزړه و ینې څښلی
که دې پرمجرم اوگناگاروی ـ وی دې کنه
چه درنځورو ددرمان سودا په سر کښې ارته
که بیا پخپله دی بیمار وی ـ وی دې کنه
چه تو ره شپه ر دپښ ' نوی شی په رڼادامید
که تر سبا پورې بیداروی ـ وی دې کنه
چه دیتیم دپاکو اوښکو استقبال ته ورځی
که ئې په مخ داوښکو لاروی ـ وی دې کنه
چه تقدیرونه دملت څوك په تد بیر بداوی
که ئې نصیب قسمت څه خواروی ـ وی دې کنه
چه بختانیه شاعری نه دې گلشن جوړوې
که په دې لار کښې خندو خاروی ـ وی دې کنه

بختان ـ د ۱۳۳۵ ددلوې اوله

وښکي

اوښکې مې پر مخ باندې بې واري ځي
تل دا قافلې له دغې لارې ځي
پټې مې ساتلې په حرم دزړهٔ
هلته ئې زړه تنګ شو بې اختياري ځي
زه ئې شو ګورو سره اشنا کړمه
اوس په سباوون کښې دابيداري ځي
راغلې بهوته ستنېدې نه شي
خاورو کښې پټېږي حيادارې ځي
دغه قيمتي کښې بې قيمته دي
دېرې چه ارزانې دي ناچارې ځي
اوس ئې له دېر تاوه زړه غوټي شوم
خلک پرې خنداکوي داخوارې ځي
جوړ ترې امېل نه شوا باسين بهٔشي
ځکه بختانيه ناقلارې ځي

جلال کوټ - د۱۳۳۵ ددلوی (۳)

په بهار مې قسم

چه زما خيال ئې رنګين کړی په بهار مې قسم
چه مې ژړاته ئې سرتيټ دی په ابشار مې قسم

زېړې څېرې سره اننګی زه هېر ولی نه شم
په زېړو ګلو اوسرو سترګو دګلزار مې قسم

چه په خوله لوئې تازه شوی دی داسره ګلونه
په سپېره مخ اووچو شونډو دماليار مې قسم

په بنده خوله مې دغوټۍ اوپه ژړا مې دګل
دخوار بلبل دزړه په سر په پټ پرهار مې قسم

دلاله زړه په ډنډ وينو او داغونو باندې
دشهيدانو په جنډو اوپه مزار مې قسم

په زړه بايللو، سربايللو، مال بايللو باندې
ددلبرانو په نخرو اوپه سينګار مې قسم

په التجاء په تمنا، په بې تابۍ ، په نياز ،
په تږمو اوښکو اوځګېرو يودبيمار مې قسم.

په سادګۍ دخوار مين په بې نيازۍ دښکلو
تشو وعدوته دګلو په انتظار مې قسم

چه په ګناه دتش کتلو ګناګار باله شی
په ګناهو نږ ددغسې ګناهګار مې قسم

څو پښتنی پسرلی رانه شي خوشحال به نه شم
به پاك تومونودصمد اود غفار مې قسم
تول غمازان به شي لاهو په اباسین د او ښکو
ای بختانیه سنا به دغسې اشعار مې قسم
بختان ـ د ۱۳۳۵ دحوت ٤

درحمان بابا گليزې

مشاعرې ته :

د ملګرو ياد

پښتنو کښې دی ښاغلی شاعران
عالمان اوعاشقان اوعارفان
ښېټ نيکه څنی قبولی ترا لګته
سالکا ن او بادشاهـان او فقيران
تيمنی اوملکيار اوښکارندوی
وو دغور په سر درو کښې بلبلان
احمدشاه باباادب کښې هم باباو
له دو لته بېنوا و ميا روښان
د خوشحال غوندې دقام دپت پالونکی
دپښتو او پښتنو الی خادمان
په څټکو کښې اشرف، عبدالقادر ؤ
بيا شيدا په محبت کښې کاظم خان
دائی شعرؤکه خوناب دزخمی زړه و ؟
دمومند عبدالحميد در او مر جان
دتوکل او ـ يد کمال سيال وميراهم
په ډيو دمحبت وو پتنګان
دحمزه دسمندر خوا کښې همېش
ياساقی او ساغر وينم يا طوفا ن

د پښتو ادب په پښو غزا نو کښې
هم پښتو شته هم غيرت شته هم ايمان
ماسره قدرو قيمت لری دا واره
دغه فخر کښې شريك دی هر افغان
پښتنانيه که رښتيا را باندې وايې !
معجزه لری شعرونه د رحمان

پښتان ـ د ۱۳۳۵ د حوت ۲٤

لاړې قافلې...

څوك چه د ګلرخو خريدار نه دی
هيڅ دزندګی نه خبردار نه دی
حق دمحبت څنګه ادا به کړی ؟؟
هغه چه منصور غوندې په دارنه دی
څرنګه مين وچه رسوا نه شو ؟
مينه خوڅادر دريا کار نه دی
لاړې قافلې در نګ وبوی سره
ياڅېزه چه وخت دانتظار نه دی
څوك چه ځی ارامې زندګی پسې
ځی دې، عشق هسې اسان کار نه دی
تېر ئې کړه غمونه له خندا سره
دې ګلشن کښې ګل چهرې بی خار نه دی
څوك چه زړه کښې مينه ديسو ساتی
هغه بختنا نيه زما يار نه دی

بغنان ـ د ۱۳۳۶ دحمل ۱٤

خو دله غمه څنې ژاړی..

خو دله غمه څنې ژاړې چه په زړه باندې دردمن وی
د بې نیازو په درګا کښې خو به رغړی چه نیازمن وی
د حضرت په بې تابی کښې د فراق ورو سلګو کښې
کاشکې سندرې وایی چه د ګلو ارزومن وی
د سرو زرو شنو لوښونو سوداګې پرې څه پوهیږی ؟

د مین په زړه خبر وی چه پخپله څوک مین وی
د کاروان جرنګې اورې؟ وایی : پاڅېږه غافله!
تر غرمو چه څوک ویده وی خو به پاته له رفتن وی

ویده ویښ رانده بینا شوو په نغمودې پښتانه !
چه د مړو دیاره ژوندې خیر که ستا تل ځنکدن وی
جلال کوټ د ۱۳۳۶ د جوزا (۲)

(٤١)

خنداسره

غم دې تېرومه له خندا سره
خوبه کړمه پټ هغه له دا سره

پوهېږه طبيبان مې په مزاج نه شو
ځکه بريالي مې په علاج نه شو
خود ئې مخالف شوم له دواسره

زه دې خپل طاقت ته حيرانېږمه
افرين په ما چه نه مړ کېږمه
غږ ټينګېدی نه شي ستا جفا سره

غل دزړه مې ته ئې پرې قسم کوم
لوی شاهد پرې ته ئې پرې قسم کوم
بله دعوه نه لرم بل چا سره

شرح نه ومه شرح کړم شوخو سترګو ستا
ومه سپين سړی خوتورو سترګو ستا
تور کړم له شوخۍ اوله ګناه سره

ناز اوادا ښائي معشوقو سره
عشق دبختانی ښائي پښتو سره
نوم دمجنون ښه ښکاری ليلا سره

جلال کوټ د ۱۳۳۶ د جوزا (۸)

گمان

مالې (۱) دزلفو په ولونو تړی
داخومې پښې په زنځيرونو تړی
ماسره مينه مشغولاهم کوی
بياله رقيب سره خنداهم کوی
ما د پښتو په اقرارونو تړی
په‌تور دمينې رنل شوی یمه
په‌تار دمينې تړل شوی يمه
زياتې مې ځله په لـ زونو تړی
اشنا ظلمونو ته چه زور ور کوی
خلك هم ده ته بيا پيغور ور کوی
دخلکو خولې په انعامونو تړی
په بغتانی غريب غمونه راځی
دستمونو سيلابونه راځی
څوبې (۲) دشکو په بندونو تړی
بغتانند ۳۶-۱ دجوزا (۹)

---

(۱) مالې: دمحاورې په اساس دماويل ئې، مخفف
(۲) بې: دمحاورې له مخه د «به‌ئې» مخفف. (ب)

دتوشیح صنعت:

یو لیک

(د ننگرهار نه کابل ته)

م .... ماته گرانه، مهربانه، قدرمنه، قدر داته
.... سلامونه درته وایم۔ زیات ترخاشکو دباړانه
ل .... لېږې لاړې، لېږې کرځې. لېږې اوسې داترڅو؟
سروکال شو چه رانغلې، شوم ستومانه او پرېشانه
ن ......، نه پوښتنه، گروېزنه، نه لېږ نه ،رالېږنه
نه دې خط نه‌دی خبر شته، دامې نه غوښتو له تانه
گ .... گیله من یم، ارزومن یم هسې نه‌چه څه شکمن یم
حاجت نشته د ویلو راته گران ئې ،ترجها نه
ج .... جدایی دصورتونو نژدې کړې‌دی لا زړونه
دېر نژدې به دې یم زړه ته، داقیا س کوم له ځانه
ا...... ارزوگانی‌خوځیدلی، درد پدلی، پار پدلی
دکاروان لویه لار څاری، که څه بودشي له کاروانه
ن .... نه‌رنځور یم، نه مجبوریم، نه‌ترور یم، نه‌مغروریم
بختنا نې یم، ر ښتیا نی یم، عفوه غواړ م له اشنا نه
بختنان۔ د ۱۳۳۶ دجوزا (۹)

★★★

اعتصاب

چه آشنا نه وی

نو گل دې نه وي

سوسن دې ناوي سنبل دې نه وی

چه مدام غنچه دخپل زړه وینې

خو نه یې کړې غم په یې نه مینې

(نو) ساقي دې نه وی او مل دې نه وی

چه زړو غږمو ګنې سوزم بې اوره

تن مې لوګی شو دعشق له زوره

(نو) چه زړه د ذلفو کاکل دې نه وی

وخت د کړ او ګنبې راته بېزار شی

هوسا یې نشته چه څوک مې یار شی

(نو) ــ پردې دې نه وي او خپل دې نه وی

چه په زړه داغ ته لکه لاله کې

چه بهتا نیه! تل په ناله کې

(نو) ــ بهار دې نه وی، بلبل دې نه وی

جلال کوټ ــ د ۱۳۳۲ د جوزا (۱۰

فتواء

رښتیا رښتیا به وایو تیر ایستل نه‌دي روا
پښتون ته له پښتونه تېر یدل نه‌دي روا

چه‌دار ته ختي نفس او پطان ګېږده خوږېږي
ناري د اناالحق ورته وهل نه دي روا

د لو بو او د فکر او د عمل ځای یو نه بېل دی
د قام په سر نوشت لوبې کول نه‌دي روا

دنیا کښې ازادي ده خو په هیڅ دین آئین کښې
انسان ته د انسان سر ټیټول نه‌دي روا

پیسې چه‌نه‌شي سر نه‌سر ناموسه ځني ځار
د سر او د پیسو خوشې ساتل نه‌دي روا

رشوت پسې روان که‌په رشوت باندې قاضي شو
هغه لره (قاضي صاحب) ویل نه‌دي روا

دکټې او تاوان بازار ته ځیر شه سوداګره
ایمان خو په لیلام کښې خرڅول نه‌دي روا

چه‌مست او نیشه ګرځي او بیوزلو پورې خاندي
په‌هیڅ‌شان د هغو سره خندل نه‌دي روا

په روح د محبت چه زندګي ئې نه وي تېره
پر قبر د هغه مړي ژړل نه‌دي روا

ډاکتر و یل شرابو کښې شفاد کم خولې ده
ماوې دفریبوویني څښل نه دی روا

ګناهوته ګناه ویل چه چیر ته وی ګناه
شاعره! هسې ځای کښې چوپېدل نه دی روا

روا او نارواه کښې ملا مسئلې وکړې
زه لنډه ګنډه وایم څورول نه‌دی روا

ملګری زر راویښ کړه بختانیه په‌نغمو
نښا چه اوس خوره‌ده وید یدل نه دی روا

جلال کوټ ـ د۱۳۳۶ دجوزا (۲۰)

★★★

ناارام

سحر سبادی خلك ټول كارو له ځینه
لالا زنګیږی خوب ئې وړ ینه

پهٔشوګیرو چه خوار مانده شی   بیانو غرمې پوري ویده شي
زما پرې څه که نر کټی وزیږ و ینه
لالا زنګیږی خوب ئې وړ ینه

نی(۱) دړودی غم او سودا ده   نه ئې د دین نه د دنیا ده
چرسو نیشه کښې ټول کارونه هیروینه
لالا زنګیږی خوب ئې وړینه

دی لږه نه خوری دیره نشته   وایی دو لږې ویره نشته
یاس دموری نه خدای دوړی به غورزو ینه
لالا زنګیږی خوب ئې وړ ینه

اد کسی موري لږ تلو ارکه   سبا ناری ور نه تیار کړه
که په غوسه شو بیا کاسه چپه کو ینه
لالا زنګیږی خوب ئې وړینه

---

(۱) نې: دمحاورې سره سم د(نه ئې) مخفف. (ب)

دغوا خوسی نورو کارونو   دلو او لوراود غربلونو
هغه شرمېږی ځکه ځان ترې پټو ینه
لالا زنګیږی خوب ئې وړ ینه

لالا ناارام دی نهسمېږی   زور دهیچا پرې نه رسېږی
(نصر افغان) بی(۱) به پیغور وبټوینه
لالا زنګیږی خوب ئې وړ ینه

جلال کوټ د ۱۳۳٦ د جوزا (۲۱)

---

(۱) بی: دمحاورې سره سم دده به ئې مخفف . (پ)

تمه کېدی شی

اسان نه دانسان داحترام تمه کېدی شی
دقام دخادمانو نه دقام تمه کېدی شی
چه سرپه لاس نیولی وی په ننګ دپښتنوالی
له هسې ننګیالو دننګ ونام تمه کېدی شی
دزړونو ګڼې لښکرچه سلامی ورته کوینه
هغسې اقتدارته ددوام تمه کېدی شی
په قار عتاب چه ګوری غریبانوته مدام
ځواب کله هغه نه دسلام تمه کېدی شی
چه کوږ تادار ئې ایښی وی په خامو خښتو بانـدې
ددې اغازنه کله دانجام تمه کېدی شی
چه ځان ښه جګوی اوخوا ران ښه را ټیټوی
نو خنګه له هغه دلوړ مرام تمه کېدی شی
ژوندون دې که دېر تریخ دی ته ډېر خوږ شه بغتانیه
له تا ځنې خوږ والی دکلام تمه کېدی شی
جلال کوټ ـ د ۱۳۳۶ دجوزا (۲۱)

نیاز

منظور دی څه چه وایې خدمتګار یمه اشنا !
نوځله مې شړې زه خودې یار یمه اشنا !

بندی دمحبت یم زولنو ته حاجت نشته
په تار دتو رو زلفو ګرفتار یمه اشنا !

ماهرڅه به وای پرینبې یاره ستالطف وکړم ته
خوزړه مې نه‌صبر یږی دېر ناچار یمه اشنا !

مرادمې حاصل نه شو ستا په دغه نن سبا کښې
په اور دانتظار کښې ناقرار یمه اشنا !

په خولې چه درته خاندم دغه ستاطبعې دپاره
پخپله ښه پوهېږې چه بیمار یمه اشنا !
پخپله‌به ازارشم که‌ازار مې‌در پسې‌شو
نورمه اخله ازار مې چه ازار یمه اشنا !

راتحه چه سره کښېنو اول پړاو ییا مې مړ کړه
عرضې درته راغلی په دربار یمه اشنا !

ادب یې څه نیسی بختانی‌دی‌ځکه‌غلی
له تانه عفوه غواړم امید وار یمه اشنا !

جلال کوټ– د ۱۳۳۶ د جوزا(۲۱)

(۵۱)

اقرار

منظور دی څه چه وایې خدمتګار یمه کنه
دقام وطن په مینه کښې اقرار یمه کنه

له مال او له رسوخ اوله منصبه ځنې تېر یم
خادم که دخپل قام ومه سردار یمه کنه

پسوته نه تېښتېږم دې خوارۍ نه مې توبه شه
د علم اود ادب سرمایه دار یمه کنه

دقام دمینانو په پګړیو باندې ګل یم
په سترګو دملې خاین کښې خار یمه کنه

غزا چه کړی ظالم سره دهغو خاص نوکر یم
ملنګ د شهیدانو د مزار یمه کنه

پښتون یم دپښتو او پښتنوالی نه ځارېږم
دحق اود رښتیاء و طرفدار یمه کنه

دژوند شمعه په لاس زه بختانی په نغمو سرېم
ویده راویښومه چه بیدار یمه کنه

جلال کوټ ـ د ۱۳۳۶ د جوز ا (۲۲

انکار

جامې به کړم بدلې خو خپل ځان نه بدلوم
دې خامه زما ه کښې پوخ ایمان نه بدلوم

که سر لاړشي که زر لاړشي پروائې نه لرم
دقام ننګ و ناموس په ټول جهان نه بدلوم

دېره او ادیره حجره جونګړه مې وطن دی
داغرونه ئې د نورو په بوستان نه بدلوم

لرمه چه جرګه سوله او تیزه په پښتو کښې
په دې باندې چلېږم داشیان نه بدلوم

بدل به سیاست کړم که د عصر تقاضا وی
پښتو پښتنولي پښتونستان نه بدلوم

بدلې به نغمې کړم بغتا بیه خو قسم دی
په نړوارمانونو خپل ارمان نه بدلوم

جلال کوټ - د ۱۳۳۶ د جوزا (۲۶)

په زړه کښې

ارزو د غریبا نود یارۍ لرم په زړه کښې
نیت د زخمی زړه د دلدارۍ لرم په زړه کښې
خوارانو سره دوست او د خوارۍ سره دښمن یم
زه خیال د ورک کولو د خوارۍ لرم په زړه کښې
چه کله خو بولو ته شپېلۍ د اسرا فیل شي
هوس د هسې رڼګه بیدارۍ لرم په زړه کښې
خوږمن چه چېرته وو ینم د زړه خوږ مې زیاتېږي
ارمان ئې د درمان د بیمارۍ لرم په زړه کښې
د نوي عصر عقل او زوړ منطق ئې ایستی نه شي
جذبه د محبت او د یندارۍ لرم په زړه کښې
د عشق په لوی خښتن ئې چه ایمان وی بښتانه
ټینګه عزم د هغو د ریبارۍ لرم په زړه کښې

جلال کوټ د- ۱۳۳۶ د سرطان اوله

عاقبت

هغه‌چه بل‌رسوا غواړی پخپله‌به ر سواشی
چه‌قام تالا کوی نو‌دسرو مال به‌ئې تالاشی

که‌هر څومره سمسو روی هم‌ضرور سرئې وچیږ ی
له‌کبره‌چه دلوخوغو ندې‌سرئې سربالاشی

دسره اورله تنوره تورلوگی څومره لوړیږی؟
دپرسپك ښکارښی هرچاته چه‌له‌قهره په‌هواشی

دپرووړو لاندې څوك‌چه او بو تېرې کړی‌نادان‌وی
دچل ولونه ښکاری چه‌د قام سترگې بیناشی

دزور اوبو پیچومو باندې خیژی؟ وبه‌څیژی!
خوزور دزور ورو اخردوی ته‌هم بلاشی

احمق‌ځان خواروی چه‌ارزوگانې ځوروی
یوه‌چه چیرته وژنی هلته نورې‌را پیداشی

خدمت کښې چه‌فانی شی‌نوښه نوم به‌ئې باقی‌وی
دنوروپه فنا کښې چه‌بقا غواړی فناشی

تکره شه بختانیه داصحنه د امتحان ده
عقبا کښې به‌څه وکړې؟ تېرل کارونه په دنیاشی

جلال کوټ‌د ـ ١٣٣٦ دسرطان (٢)

د «پولیك» ځواب ښاغلی ملنګ جان
په یو شعر کښې لیکلی ؤ دا دهغه په
اثر د اطمینان دپاره د ننګرهار نه
کابل ته ورواستول شو :

د اشنا کاغذ

زړی پرماراته راغلی داشنا کاغذ
لکه مجنون ته چه څوك ورکړی دلیلا کاغذ

د محبت د حقایقو ترجمې ئې کړلې
په ډیر ادب او خوشحالی او په خندا کاغذ

لا مرور نه وم خو مخکښې ئې پخلا کولم
د ګیلو خړې ئې لاهو کړې په دریا کاغذ

ښکل مې به شونډو کړ بیاسترګو پورې ومې مښود
دغسې ما غوندې لر له تقاضا کاغذ

نور مې دسترګو زور دزړه قوت دفکر شولو
په تسلو ئې رابهر کړم له سودا کاغذ

ټول مطالب ئې تشکر سره منلی شمه
پیغام دمینې واستا ځی دوفا کاغذ

ماوې رنځورلره چا زیری دصحت ور کړی
یا مهربان طبیب لیکلی د «دوا» کاغذ

گیله یارانو نه کیږدی شی خو گیلو نه زما
دومره مطلب وچه واصل شوراته داکاغذ

غل که په غله پوهیږی ملخو هم په مله پوهیږی
لری فرقونه داخلاص اومدعا کاغذ

ترنوکری اوباداری تر ملنگی اوخانی
ډیر محترم دی په معنا کښې د معنا کاغذ

سند د مینې تر قیامته پورې نه چلیږی
زر زر زړیږی د بیسواو ددنیا کاغذ

څومره چه قدر او قیمت ئی بختانی سره دی
هومره به گران نه وی هیچا ته دهیچا کاغذ

بختان ـ د ١٣٣٦ دسرطان ٢٤

(۵۷)

زما ګیله

بل که د ځان ځوندې انسان ګڼې انسان ئې ګڼم
که دسیسې جوړوې نورو ته شیطان ئې ګڼم

دسکه ورور پسې په ټوپک کښې تمانچې ګرځوې
پر مسلمان ئې که زړه خوږ شو مسلمان ئې ګڼم

څه افتخار دی که چا تویې کړې د نورو وینې
که د چا اوښکې ئې کړې پاکې پهلوان ئې ګڼم

غریب تږی هم ئې وږی هم تر ې ما لونه اخلې
خو که د زړه کور ئې اشغال کړو قهرمان ئې ګڼم

وایې پښتون یم خو په درو غو باندې نه شرمېږې
پښتنو لی ئې که ثابته کړه افغان ئې ګڼم

نیغه شمله به ئې زه څه کړم چه معنا نه لری
که بې لوړې د خپل اولس شو لوښه ځوان ئې ګڼم

غربه سوری شی بختانیه ! که همت ولرو
مه وایه دا ډېره مشکله ده اسان ئې ګڼم

بختان د ـ ۱۳۳۶ د اسد ۲

ازادی

مغزوباندې مې خیال دشاعرۍ لوبې کوی
په دېره ماهرۍ د ساحرۍ لوبې کوی

دشعر اوداد ب اودعمل په آزادۍ کښې
دفکر اودقلم اودتکلم په ازادۍ کښې
ژوندون دلذتو په سر شارۍ لوبې کوی

دپوهې اوتنو یر او اعتقاد په ازادۍ کښې
درایې اوتقریر او انتقاد په ازادۍ کښې
قومونه شی بیناد بیدارۍ لوبې کوی

لذت وی په ذلت کښې شرافت چه چیر ته نه وی
ذات وی شرافت کښې حریت چه چرته نه وی
لو یا نلکه واړه دکمترۍ لو بې کوی

تسل دارمانو لره لازمه ازا دی ده
خدغم خو په کښې نشته داخوښی ده اوښا دی ده
دیارسره یاران چه دیارۍ لوبې کوی

روان زه بغتافی دمحبت په سمه لاریم
ملنګ دازا دی دشهیدانو دمزاریم
زمادعشق جلوې دښاپیرۍ لوبې کوی

جلال کوټ ـ ۱۳۳۶ د اسد ۲۸

گران پښتونستان زما

ئې وطنه جان زما ښکلی گلستان زما
زه در نه ځار یږمه گران پښتونستان زما
گران پښتونستان زما

ئې د ننگیالو وطن ئې د پتیالو وطن
خومره را ته گران ئې ته ئې دزمریالو وطن
ئې دزمریالو وطن

غیز کښې دې لویږمه ئې شوکت وشان زما
زه در نه ځار یږمه گران پښتونستان زما
گران پښتونستان زما

ئې د پښتنو هیواد ئې د میړنو هیواد
ماکښې دې چلیږي ساه ئې چه دږوند وهواد
ئې چه دږوندو هیواد

ژوند نه نه تیریږمه خووی تاب وتوان زما
زه د رنه ځار یږمه گران پښتونستان زما
گران پښتونستان زما

ننگه او شجاعت سره تو ر ې او غیرت سره
سا تو به پښتو خپله عزم او همت سره
عزم او همت سره

چا ته نه ټیټیږمه دغه دی پیمان زما
زه در نه ځار یږمه گران پښتونستان زما
گران پښتونستان زما

زه تا پرېښو دی نشم   بلې خوا ته تلې نه شم
هر څه نه که تېر شمه   تا نه تېر پدی نه شم
تا نه تېر پدی نه شم

بې له تاورك كېږ مه   ئې نا م و نشان زما
زه در نه ځار ږ مه   گران پښتو نستان زما
گران پښتو نستان زما

نه اورم لمسون د بل   نه منم قانون د بل
ئې چه د پښتو څنو ان   نه لولم مضمون د بل
نه لولم مضمون د بل

هیڅ نه گمراه كېږ مه   څسې دی ایمان زما
زه در نه ځار ږ مه   گران پښتو نستان زما
گران پښتو نستان زما

روح دز مانو مې ئې   ژوند دافسانو مې ئې
شعرد بختا نی وایې   سور د ترانو مې ئې
سور د ترانو مې ئې

تل په تا نازیږ مه   ئې باغ و بستان زما
زه در نه ځار ږ مه   گران پښتو نستان زما
گران پښتو نستان زما

بختان - د۱۳۳۶ د اسد (۳۰)

څکه ژاړم

څکه ژاړم
چه مې خنداته حاصل نه‌شووفر صتونه
دا چه زه‌ژاړمه ر نځوریم
په مغزو وران په زړه ناسوریم
څکه ژاړم
په زړه مې اینې دی هجران سوی داغونه
زه درته ژاړمه ته خاندې
مسخرې هم راپورې کاندې
څکه ژاړم
دمسخرودې ر اکښې نشته طاقتونه
نه‌مې څه بود کړلې‌ژوندونه
نه مې څه‌سود شوهد یرونه
څکه ژاړم
هیڅ نه حل کیږی دیاری مشکل کارونه
سر شوم دعشق په اندیښنه کښې
حوصله نشته مې سینه کښې
څکه‌ژاړم
له پناې مې ځی ترخولې سوې‌اه نه

د ښځنا ئي سو ومسرو ته
دنازو نيازدي اشارته
ځکه ژاړم
يوزه نه ژاړم په ژړا دی عالمو نه

جلال کوټ ـ د ١٣٣٦ دسنبلې اوله

وبەژاړی

وبه ژاړی
چه ژړه غونو پوري تل خندا کوينه

زيري اخوارانومزددورانو!
ای گرانوورونو عزيزانو!
وبه ژاړی

چه ئې له لاسه تاسو پرژړلی دينه
اخرپخپله به ر نڅور شی
له دېره غمه به ترور شی
وبه ژاړی

چه درنڅورو به زگيرووتوكې كوينه
دچل و لونه به رسواشی
اخر به توره شپه‌سباشی

وبه ژاړی
چاچه لستوڼی كښې ماران ساتلی وينه
غوڅ بی(۱)پخپله توره لاس شی
خلك بی (۲)له شره څخې خلاص شی

---

(۱)(۲): بي: دمحاورې سر مسم د« به ئې» مخفف .(پ)

و به ژاړي
چه د تیرې تورې په سر لو بې کو ینه

اشنار اخه بغتانی خواله
ورسره وکړه دزړه خواله

و به ژاړی
چه حکیما نو نه رنځو نه پټو ینه

بغتان د۱۳۳٦ دسنبلې(۲)

عذر

په مينه کښې پښتو مې استعفا ته نه پريږدي
خپه نه شې اشنا ! که څوك مې تا ته نه پريږدي
دولږې او د تندې پروانه وه ستا په خوا کښې
(څو). بدحال دوږو تږومې ستا خوا ته نه پريږدي

پتنګه غوندې اې شمعې ! زه له تا به څورليدم
خوژوند د ترزمې مې ستا رڼا ته نه پريږدي
ما غاړه به تړله ستا دزلفو په زنځير
څو خيال د زولنو مې د سودا ته نه پريږدي

په عذر او په ژړا به زه در تلمه خوار ما نه دى:
ارمان د ژړه غونو ما ژړا ته نه پريږدي
زه پوه يم چه رغيږم ستا د شونډو په شربت
خور ننګ مې دولس خپلې دوا ته نه پريږدي

خبر يم چه په ستر ګو کوې کار د مسيحا
افسوس د قام سلګى ما مسيحا ته نه پريږدي

د پر لور به بختاني واى که واى خاورې ستا د در
د خاورې دلور تيا غم ئې لور تيا ته نه پريږدي

بختان ـ د ١٣٣٦ د سنبلې (٢

خپله خوښه

ته هغه چه بلعذاب کړم — عذاب خوښ یمه پخپله
چه د بل جاله کړم ډوبه — غرقاب خوښ یمه پخپله

ته هغه چه دغه یبو — ځان ته غوښې نه کباب کړم
په سره اوردغریبی کښې — کباب خوښ یمه پخپله

ته هغه چه د مظلو مو — وینې وز بهیم مستی نه
په نیستی کښې بې پیالو د — شراب خوښ یمه پخپله

ته هغه چه د خرا بو — په ورانی جوړه ماڼی کړم
په جونګړه کښې پروت به یم — خراب خوښ یمه پخپله

ته هغه چه خوك د کمشو یا — کله ور كشه را ته وایی
دولت له مقاما تو — جواب خوښ یمه پخپله

ته هغه چه شم بې آ به — بې پردې ورسره همزه
دهغه تهذیب په مغزکښې — حجاب خوښ یمه پخپله

د آ هو نو له طـو فا نه — اود او ښکو له با رانه
جـوړ په کور دظالمانو — سیلاب خوښ یمه پخپله

ته هغه چه بختنا نیه ! — د پیسو پسې ځان ورك کړم
په جذ بود محبت کښې — بیتاب خوښ یمه پخپله

بختنان ــ د ١٣٣٦ دسنبلې (٢٢)

دځوانئ دور

دورد ځوانئ لکه موسم دنوبهار تېرشو
یادطبیب دخواخوږئ لاس په پرهار تېرشو
یوه نیشه وه هسې نه چه همیشه پاته وای
دښا پیرو دباغ نسیمو ، په سهار تېرشو

وږمه خوره وه، شوك مې ونه لید ،چاوویې راته :
دلو نګینو سوداګر په دغه لار تېرشو
دیو پریشان غوندې شاعرو دخوبو نوتعبیر
دپرې شوخئ او رنګینئ کښې ناقرار تیرشو

دسیاسي دسیاست په رنګینئ یو نظر
په چالاکئ او ظرافت دپخته کار تېرشو

دبې وفا غوندې اشنا سستې وعدې غوندېؤ
که یو بې لوزه غوندې لوزدکوم ریبار تېرشو

دده پروزو دافطارو یو کمکی شان اختر
خوندپکښې هومره وچه وخت کښې دافطار تېرشو

یو ښندرېز غوندې د رام وخومطلب بی(١) خه ؤ؟
دومره پرې پوه شوم چه په دول او په سینګار تېرشو

(١) بی : د « به ګې » مخفف .

مال(٢) بختانيه دكښې نه ئې خبر به كړم څان
څوچه مې يام ورته كېدلو په تلوار تېرشو
بختان ـ د ١٣٣٦ دسنبلې (٢)

(٢)مال : د «ما ويل» مخفف .(ب)

عشق

بې له مینې هېڅوك نشته   خلك وا ړه ما شقان دی
دا زه ولې ملامت شوم ؟
د جما ل شمعـه بلېږ ی   ټول د مینې پتنګان دی
دا زه ولې ملامت شوم ؟
دا جهان دی پیدا کړی   خدای د عشق له بر کته
عشق دی پلار د کاڼاتو   نورټې وا ړه فرزندان دی (۱)
دا زه ولې ملامت شوم ؟
د فطرت په رنګینو کښې   د حیات خوږ و نغمو کښې
سوز د عشق او ساز د عشق دی   سوز و ساز کښې مینان دی
دا زه ولې ملامت شوم ؟
د وحدت نه جوړ کثرت شي   له کثرت نه جمعیت شي
جمعیت بېرته وحدت شي   باغ ټې یو د پر ټې ګلان دی
دا زه ولې ملامت شوم ؟
دا دنیا چـه ده ورد انه   ز ندګی چـه ده روانه
د بېکلا پلوشې بېکاری   ټول په هغه خوا روان دی
دا زه ولې ملامت شوم ؟

---

(۱): داجهان دی خدای له عشقه پیدا کړی
د جمله ؤ مخلوقاتو پلار دی دا

(رحمان بابا)

دنیا یستیوه جلوه کئبێ   سل دمینێ اشارێ دێ
لحکه مینه‌هم‌ده شکلێ   چه‌ئی شکلی به‌ارمان‌دی
دازه ولێ ملامت شوم؟

عشق‌د ژوندجذبه‌عشق‌ـ   زندگی ده بختنا نیه!
عرشی اصل ته ور لحینه   حیران‌دێ ته‌هوشیاران‌دی
دازه ولێ ملامت شوم؟

بختان ـ د۱۳۳۹ دسنبلی (۲۷)

❀❀

هرڅه به لاړشی‌خو زماله زړه نه مینه‌لحێ
بومسلمان چیرێ به‌هیڅ‌صورت له‌دینه نه‌لحی

څنګه ښکاري؟

خوښي را ،ه په خنګ ځی ما ښیجنه غوندې ښکاري
خندامي په سپېروشو نڅوغم جنه غوندې ښکاري

زندی ګی دور پښوون تیره ده تر الما سه
دنیاد سیاست څه مکر جنه غوندې ښکاري

تپوس درنځو رانو نه په تنګ دی حکیمان
پو ښتنه هم ر نځوره ده تب جنه غوندې ښکاري

غلطه ده چه وايی : نشته وخت دملاقات
وخت شته دی مکر داڅه کبر جنه غو ندې ښکاري

پر ګل چه پرخه ستا یې ښځ انیه په خندا
حیران دي شم لیمه ته چه نم جنه غوندې ښکاري

جلال کوټ د سنبلې (۳۱)-۱۳۳۶

دنیمې شپې دعاء

الهی !

إلهی په زړه کښې دردرا
او له درد سره ارزو

الهی زړه کښې اوزورا
له ارزو سره پېرزو

پرور دګاره !

د پېرزوه ور یمچه له تانه هم زړه غواړم
دزړه ورواو دزړو پروردګاره !

دزړه دردمې دقام دردلره دوا کړه
اې درد اودداړو پروردګاره !

دقام زړه لره پېرزو لوړه ارزو کړه
دارزو اود پېرزو پرور دګاره !

دارزو له زړی شنه کړه لوی باغونه
اې دلویو دوړو پرور دګاره !

دولس د پېرساړه زړونه لزتاوده کړه
دسړواو دتودو پرور دګاره !

په جرګه کښې دسړو سرلوړی غواړو
دسرونو اوسړو پرور دګاره !

غیرتی ربه ! تر سره موپښتو کړه
دغیرت اود پښتو پرور دګاره !

پښتانې پخپله مېنه لامین کړه
اې دمیني د جذبو پروردګاره !

(پښتان ــ د ۱۳۳٦ دمیزان ۲۰)

ربـــــه!

مانەد دنیاربە ادنیامە راکوە
ماتە دەقبارە اەقبامە راکوە

ئەمی عبادت کری اونە گی مزوری غوارم
تەهم جنتونە پەوریا مەراکوە

بس چە جور زوندون راتەدوزخ کرقیبا نوسنا
تەهم دوزخونە خاصتا مە راکوە

ئەچە ستار ضاوی پەرضادیزە راضی یم
بل شانی امیداو تمنامە راکوە

درد دەصبتدی بی نیازە لەدرمان کرمە
زەرەد بغتانی لرەدوامەراکوە
بغتان ــ د ١٣٣٦ دمیزان (٢١)

دپیسومینه!

دنیا کښې نوري مینې هم شته د پیسو مینه !
پر بېړده خویونه دوړو دپیاسو مینه !

وطن خدمت اوزیار ایستل درلغني غواړی اشنا
زیاتی دخپتې سودا پر یږده د کاسو مینه!

لاس به دي پر يې شی دشړی سره دي پښې غځوه
نوره غلا مه کړه دکتان اواتلسو مینه!

کسیل د گلوخو ښوي نو کړه وطن گلستان
ارام به نه شې بې له دینه دکرسو مینه!

خلك پوز مې ته لیاري گوري ته اسمان ته گوري
ځان ته لږ یام وکړه دنشوو سوسو مینه!

پښتانه وایي :خوك پیسې اوخوك کیسې کټینه
پیسونه تېرشه بختانیه !دکیسو مینه!

بختان ـ د ۱۳۳٦ د میزان (۲۲)

★★★

اعتــراف

زه څه نه یم خو په تش نوم د بابا ځان غولوم
پرون تېر شو ننځه نشته په سبا ځان غولوم

د دېوال سیوری ته ناست یم د کاروان دوړو ته گورم
په دې خاورو د کوځو کښې بېنوا ځان غولوم

نه په پل د نورو تلی شم نه زړه لاره مو ندی شم
ریبار روا یی : کښېنه مه ځه زه هم لا ځان غولوم

په تدبیر کښې څه خامی وه چه تقدیر نه کیله من شوم
او س چه بله چاره نشته په ژړا ځان غولوم

لوی پښتون وم شوم وړوکی وا ړه هم راپورې خاندی
بخښتانیه په انکار کښې خامخا ځان غولوم

بخښتان ـ د ۱۳۳٦ د میزان (۲۹)

دمرحوم ملنګ جان ویر :

ای د دنیار به!!

ته دا څنګه کار و نه‌لري؟؟؟

تمه‌د وصل کښې هجران راغی
زماتر غوږخبر دمرګ دملنګ جان راغی

ملنګ ملنګ نه‌ود قام دننګ و نام وملنګ
ځان نرینه هېر و خود قام د احترام وملنګ
دازادۍ دبڼ بلبل و پرې خزان راغی
زماتر غوږ خبر دمرګ دملنګ جان راغی

قام ته دننګ او دغیرت یو ښه مثال وملنګ
تیاره دجهل او ناپوهۍ ته بل مشال وملنګ
خودئې دمرګ په چیغه هرڅا له‌ارمان راغی

ټینګ په پښتو پښتنولۍ ښه‌مسلمان وملنګ
پښتونستان ئې جوړاوه زلمی افغان وملنګ
و یراو ماتم ځکه په ګران پښتونستان راغی

په دی‌لوي غم باندي‌اي‌لوی افغانه‌وژړیږه
په‌سیل‌دا و بیکومې ای لوی جهانه وژړیږه
دنیا به خه‌وی چه دالوی‌غم په‌افغان‌راغی

داخوارلس میاشتی منتظرپه‌ننګرهاروم‌ه‌زه
دیر ارزومن ئې دخبرواو دیدا رو مه زه
ماته کابل نه دخوبنی‌په‌ځای خپګان‌راغی

په‌ژړه غونی صورت‌زه نورخه ویلی نه‌شم
اي‌بختانیه ترقیامت ئی هېرولی نه‌شم
ملنګ‌سره‌چه‌سورپه‌ویښودد واجان» راغی
ای ددنیاربه ! ته داڅنګه کارونه‌لري ؟

بختان ــ د۱۳۳۶ دعقرب ۱۳

مسلمان ته

ماوېزاړه بتان بهمات کړي ته دخدای په حکم
تهم یاغی شوې له مولا او بتکدې ته ولاړي
دېته دي یام نه وچه پل تا په دصراط ، ایښې و
وښوییدلي ددوزخ لاندې پرديته ولاړي

کافر ته

لکه شیطان په دلبرۍ کښې دېزه تیرو یستمه
همت مي بایللود،دي جوارۍ کښې دېزه تیرو یستمه
ماایمان بایللو پر تا ، تاکړ وله خپلې قربان
بیمانه ښه ایماندارۍ کښې دېزه تیرو یستمه

د۱۳۳۶ دقوس (۵)

ماليار غوږ کښې راته ووې:

زه ژوندی یم خو پوه نه یم — په معنا د ژوندانه
حل مې نه کړه نه حلیږی — معما د ژوندانه

حرکت پوره نه خښل دی — سر له خاوره جګول دی
د رڼا یو ره غوښتل دی — ابتدا د ژوندانه

ځان په پاڼو پټول دی — بیا نسیم ته موسهدل دی
د زړه غوټۍ را ښړدل دی — ماجرا د ژوندانه

پیاله د پرې زړه چاودی نه — پڼه خوله بېر ته کول دی
یا ژړل دی یا خندل دی — په ښکلا د ژوندانه

دنیا یست مظاهرو کښې — په خوږو خوږو وږمو کښې
پاڼی پاڼی رژیدل دی — ارتقا د ژوندانه

له خوږو خوږو میوو نه — بیا ترخې خولې خوږول دی
ځان پایمال او رخ بدلول دی — انتها د ژوندانه

د حیات په ګلستان کښې — ماليار غوږ کښې راته ووې:
بختانیه راشه پرېږده — دا سودا د ژوندانه

حلال کوټ د ۱۳۳٦ دقوس (۱۹)

باغبان در گوشم گفت:

کرچه دارم زندگی هم ادعای زندگی
می نه دانم چیست ایا مدعای زندگی
جنبشی سوی ظهور وسر براوردن زخاك
اقتباس نور باشد ابتدای زندگی
یك تبسم از نسیم وساز وبرگی داشتن
عقدهٔ دل وانمودن ماجرای زندگی
لب کشودن تاکه گردد اشکار ارحم دل
خنده‌ای یا گریه ای حسن نوای زندگی
در نمود حسن با امواج بوی جانفزا
برگ‌ها را ریختن شد ارتقای زندگی
میوهٔ شیرین به‌کام تلخ کامان ریختن
این چنین از خود گذشتن انتهای زندگی
باغبان در گوش من اندر گلستان حیات
گفت: بس بختا نیا از رازهای زندگی

جلال کوټ - ۱۹ قوس ۳۳۶

د جنگ اعلان

غم مې دغمونو سره جنگ لري
زغم مې ستمونو سره جنگ لري

هات کهدا کچکول مې دهیلو کړی څوك
څه چل به زما دحوصلو کړی څوك

صدق مې چلونو سره جنگ لري

څه دحاد ثاتو کنهې اسیر یمه
لاس او پښې وهم څه پروا گیر یمه
حال مې طوفانونو سره جنگ لري

نه یم به پیسو او په دنیا مین
یم په توده مینه داشنا مین
عشق مې له عقلونو سره جنگ لري

زه خو لګومه په ظلمت ډیوې
ډیر یه محبت دمحبت ډیوې
رحم مې ظلمونو سره جنگ لري .

کا نې کهو ریزې څه پروا لرم ؟
ویره بخښتا نیه زه دچا لرم ؟
زړه مې له خوفونو سره جنگ لري

بخښتان ـ د۱۳۳٦ دقوس ۲۰

نوی عصر

دنیا کښې نن ډیر شوی دی رواج دعلم وفن
په ډیره محتاجې اوسی محتاج دعلم وفن
دزمکې تزی تزی وزی وزی لوخړی لوخ دی
لار گوری اسمانو نو ته معراج دعلم وفن
یوه کښې وینه موج وهی په بل کښې وچه شوې
دی هسې مموجزر کښې امواج دعلم وفن
دمینې او ښکلاله کرشمو ځی بې نیاز
بې ذوقه دماشین غوندې افواج دعلم وفن
وسله دوسیله ده خو په لاس دخودغرضو
سړونه دی دلیبزی په تاراج دعلم وفن
دیو چه سروی تیټ او بل په هسکه غړی کړ ځی
پر ځکه به نسکورشی دغه تاج دعلم وفن
چه درداو ترحم اوعاطفې با ندې بر غل وی
حکیمه اول وکړه ته علاج دعلم وفن
ماغزه دی بیدارشوی خوکه ستر گې څه بیناشی
رهنا به توره شپه شی په سراج دعلم وفن
دمینې لوی واکمن ته که تسلیم واړه پوهان شول
نو شمر دبختانی اخلی خراج دعلم وفن

بختا ن ـ د ۱۳۲۶ دجدی (۱۱)

اصرار

نه ځمه یاره نه ځم
نه ځمه یاره نه ځم
که سرمې لاړشي اشنازه ستا له دربار ه نه ځم

که زما سر په سردارشي نوسردار به شمه
دعاشقانو د ټولګي لوړ افتخار به شمه
په زړه کښې نور لرمه
خوی د منصور لرمه
ځکه له دار ه نه ځم
نه ځمه یار ه نه ځم
دحق نغمې تکرارومه خو له دار ه نه ځم

ډیر تو متو نه ما منلي دیارې په کار کښې
ډیر کړاوونه مې ایستلي دیارې په لار کښې
تېر له ژوندون یمه زه
مین پښتون یمه زه
له خپله لار ه نه ځم
نه ځمه یاره نه ځم
ما په پښتو دالار نیولې له دې لاره نه ځم

بلو ډیوونه چور لیدل د پټنګانو کاردی
سر له خپل هوډه ځارول د سر بازانو کاردی

چه ترې تاویږمه زه
ترې بهځاریږ مه زه
له دغه کاره نه ځم
نه ځمه یاره نه ځم
دغهمې برخه ازلی ده له دې کاره نهځم

څه فرق ئې نشتهکه سره اور که سره گلزارته ورشم
خویهدې شرط چه ملا قات دخپل نگارته ورشم
دمینی نارمنمه
دغه گلزار منمه
هیڅ‌له انکاره نه ځم
نه ځمه یا ره نه ځم
لکه خلیل (ع)زه بختانی له سره انکاره نه ځم

بختان ـد۱۳۳۶ دجدی(۱٤)

انتظار

شوگیر مې ټوله شپه کړه د سبا په انتظار
ترور وم په تیارو کښې د رڼا په انتظار
د هسکې له سترگو توی شوم لکه اوښکه د درد په دلې
اسمان ژاړی اشنا ستا د خندا په انتظار
لمر دی اوس ختلی ټول ویده دی راویښ شوی
زه سره پالنگ ته گورم د لیلا په انتظار
فطرت کښې د ښایست د زړه ازار ته څه ځای نه و
ازار شو زړه مې ولې د ښکلا په انتظار؟
په مینه کښې رنځور یم بې نیازه له درمانه
طبیبه! زه دې نه یم د دوا په انتظار
پیسو باندې مین دی رقیب وایی زه ښه ځوان یم
ته زوړ شوې بختانیه د اشنا په انتظار

چارباغ صفا ـ د ۱۳۳۶ د جدی ۱۶

ننداري

دژوندپه ننداړ تون کښې څه عجیبې ننداري دی
رمزونه اورازونه داشنا داشاري دی
دغورپه سترګه ګوره چه غلطانه‌شي مالیاره !
عروج که‌تنزل دی‌که داهسې فواري دی ؟
دګل داموسکی خوله‌ده که‌دزړه پرهار ئې‌څکا ری ؟
په‌دغه ګلستان کښې دغه څنګه نظاري‌دی ؟
یتنګه ! ته‌وردا نګه چه ده‌شمعه په‌ژړا
بلبله! ستاخویادې هم‌له‌سوز دکې‌ناري دی
نغمې‌دی ترانې‌دی که مرموزې افسانې دی
جرس دقافلې‌که‌د لېږدنې نغاري‌دی
خنداپسې خنداده اوکه غم دیاسه غم‌دی
یانغښتې په‌خوشیو دانه‌زړو کښې ترا رې‌دی
دعقل‌سودا پریږده بغتانیه په دنیا
تعمیرته ئې‌چه ګورم دسرونو مناري دی

چارباغ صفا ـ د ۱۳۳۶ دجدی (۱٦)

★★★

...بدلی شوی

غوټۍ دامید ونوچه په‌خار بدلې شوې
پرېشاني خاطرې مې په اشمار بدلې شوې
چاره‌څه ده‌دميني په‌زړ گونو مشکلات دی
دوصل اوږ دې‌شپې په‌انتظار بدلې‌شوې
که‌وترېمه خوله هم رسوايي ده‌نه‌خلا صېږم
ورې قطرې داوښکو په‌ابشار بدلې‌شوې
په‌دغه قيمتی کښې‌زما اوښکې لری ارزانې
افسوس‌چه سوداگانې دبازار بدلې‌شوې
زماغوندې ساده‌نه ساده‌زړه په‌چا لاکی وری
پردې دمحبوبا چه‌په‌سينګار بدلې‌شوې
اوږدې څپې‌چه‌لنډې کړې اشنا په نوی خيال
زه‌پوه شوم‌چه حلقې‌راته ددار بدلې شوې
کچکول‌ئې راته‌مات کړو د بيوزلو ارزوگانو
ديارخوږې خبرې‌چه په‌قار بدلې شوې
منکر نه شې‌له‌عشقه بختانيه پروا نشته
وعدې‌چه‌داشناۍوس په‌انکار بدلې شوې

چار باغ صفا ـ د ۱۲۳۶ دجدی (۱٦)

دعشق سوغات

د «کمين» ديوان

دغه‌دی « دعشق سوغات » که « دزړه راز » دی
که‌دميني دمحفل‌يو سوزوساز دی
د «کمين» دروښان فکر پلوشې دی
«بختانيه» رازونياز دردو گداز دی

چارباغ صفا ـ د ۱۳۳۶ دجدی ۷

تفاوت

یو تن پښو په خوړو داښتها په انتظار
بل مری له ډېرې ولږې دغذا په انتظار
دیو رګو کښې ښکاری دسرو وینو غور زنګونه
دبل وینه شوه وچه ددوا په انتظار
یو مغرور مړه غټ شوی چه چوکی کښې نه ځائیږی
بل رغړی ئې درشل کښې دامضا په انتظار
تشناب کښې لګولی هغه یو غټ کروبونه
دبل غو نټی په لاس دی ددرنا په انتظار
هغه به خر بوزه خوړله ده خوړل پوټکی
دخان دا خر بشوی ودښکنځا په انتظار
بڼاغلی دا ړه مار خویې لوټ کړی نن پروندی
ساده له ساد ګی دی دسبا په انتظار
دنیا کښې په دې عصر خلک لار ګوری اسمان ته
مونږ بو سو کښې و یده یو ددنیا په انتظار
چه سم په سمه لاره ته بخپله روان نه ئې
نو مشه بختانیه دبل چا په انتظار

بختان — د ۱۳۲٦ دجدی (۲۰)

پریشان خوب

رنګونه دشباب وودسرو ګلو منظرو کښې
وزمې دارزو ګانو دشاعر په بسترو کښې
خوب ننوځو په خوب کښې یو تصویر دبېد اري ؤ
رنګینه تماشه دښېښتیا نا په سردرو کښې
فضا کښې په نښادرنګ وبوی وې قافلې
دخیال ملګرې نه څوك په دغو ننداره کښې
ولس خواته شوه مخه دملګرو په لټو ن
ناره مې ده وکړې خو تا ثیرنه ونا رو کښې

له خوبه شي راپورته چه فرصت درنه تېرېږي
چمنان ته مې پام وشو ژوولا پروم اد یرو کښې

روان شوم مخ په کلیو دملګرو په لټون
هغوند نمه وه غلې په دېرو او په حجرو کښې
سپلي دچاوساړه وومال (۱) حجره کښې په ګمان تودکړم
داور بڅرې نه ودښېښتو ن بابا نغرو کښې
نوره کښې سوز پیدا شو اوښکې تویې شوې له سترګو
بیاهرکې مرغلرې شوې هملته په اېرو کښې
بیور ګوټې ورك شوم سرمې ووت وبازارته
چا ووې سودائي دی، مسخره شوم مسخرو کښې

(۱) مال: دمحاورې له مخه ددماویل، مخفف

پیسې وې وسوسې وې هم چلونه دسیسې وې
سوداسینو سره وه دخوبانو اشارو کښې
په تیښته ترې بهر شوم سر په ښارو په مېرو
دښار که قصابان وو نو لېوان وو هغو غرو کښې
پریشان شوم په پریشانی کښې اېله خلاص له پریشانی شوم
پریشان اوس پښتانی دی دپریشان خوب تعبیرو کښې
پښتان ـ د۱۳۳۶ دجدی ۲۱

وسوسه

دوصال پسې مې ډېره تلوسه وه
اوله پوه شوم چه دا خوشې وسوسه وه
ددعنې او لونې هيله من وم
مقابل کښې د اشنا ډېره غوصه وه
بو نظر د محبت ما اره بس و
خوله قهره ئې د ستر کو سره کاسه وه
زه اهلعلم اوله ادب سره ورتېت شوم
خو غرور د کبر چن اشنا خاصه وه
بلاشرط ورته تعليم وم پخپل خيال کښې
نامنظور شوم چه منظوره ئې پيسه وه
بختا نيه کتابو کښې نه ځا ئيږي
داد مينې لنډکې غوندې کيسه وه

بختان ـ د ١٣٣٦ د جدی ٤

ڠنگه؟

دغه ستا داوږ د وز لفو سلسله د .
کمزما دپرېشانی لفوه کیسه ده
منتظريم زه وتا ته ، ته رقيب ته
محبت کښې خود الوېه فاصله ده
پېزده بو پېزبه بل پېسترګو بلڅه
دادکوم کتاب دکوم باب مسئله ده ؟
ته پېزوره زوره خانده زه به ژاړم
دازمااو هنه ستا معامله ده
دمظلو مو زړو ازارنه به ازار شي
اعتراض دربانديې نه کوم ، کېله ده
ناکامی دمینې لويه کاميا بی ده
بختانیه دقدرت دافیصله ده

بختان د ۱۳۳۶ دجدی ۲۷

(۹۵)

خنکه به‌ شي؟

ن‌مې اشنارا‌ته په قار دی، خنکه به‌شي؟
دازړه‌مې ځکه نا قر اردی ،خنکه به‌شي ؟
زې (۱) غولولم‌په‌کلونو په موهو مووعدو
اوس له‌وعدو نه‌ چور انکاردی ، خنکه‌ به شي؟
ماوې یر مابه‌یو نظرد محبت ولري
سوزم رقیب سره چه‌یا ردی،خنکه به شي ؟
دمینې زور دی غریبی کښې ئې‌هم پرې نه‌بودم
یارمې په بنکلیو کښې‌سرداردی ،خنکه به شي؟
اې‌بختنا نیه سینه سپر کړه حوادثولره
دعا شقي‌خودغه کاردی ،خنکه به شي؟

بختنان ـ د۱۳۳٦ دلو (٦)

---

(۱)زې: دمحاوری‌سره‌سم‌د «زه‌ئې» مخفف .

نوی ځوان؟

ماوې ننګ اوغیرت لزپه کاردی
ده وې وخت مې دهول اوسینګار دی
مال پښتون ئې نوغوره پښتو کړه
د وې غور مې دغوږ دو پښتو کړ
ماوې قوم اووطن خوار وزار دی
دهوې وخت مې دهول اوسینګارد ی
مال راځه چه خدمت دوطن کړو
دهوې ځه به وی داچه فیشن کړو
مال فیشن نار ینهؤ ته عاردی
ده وې وخت مې دهول اوسینګاردی
مال ځوانی څه ښکار یږی په کار
ده وې خوند لری کیف او خمار
ماوې کله داخو ی دې دیلار دی
دهوې وخت مې دهول اوسینګا دی
ماوې بهرته یوپا ته دنیا نه
دهوې مشکښې یم ډول ګښې هر چانه
مال خمتا ستادملک پیدا وار دی
ده وې وخت مې دهول او سینګاردی
ماوې وخت دکمال اوهنردی
ده وې ښه وخت دعطراو پوډر دی

ماوي گوره‌چه سوړدا بازاردی
دەوي وختمې دړول او سپنگار دی

مال‌راخه دعوه وړو کوم‌ملاته
دەوي زه‌یم روان سینماته
مال‌غلط اوچتی ستا رفتاردی
دەوي وختمې دړول‌او سینگاردی
مال‌په خیال‌کښې می‌ښه مپږنی‌وي
وي‌چه ته‌دېر ساده بختانی‌وي
مال‌خادم چه‌دقام وی‌سر داردی
دەوي وختمې دړول‌او سینگاردی

بختان ـ د ۱۳۳٦ ددلو (۷)

مال: دمحاورې سره‌سم‌د «ماویل» مخفف .

نەگرخيدە...

کەپەزرە کنبيمي دلبرنە گرخيدە
نولە غمەبە مي سرنە گرخيدە
پەبلا دتورو ستر گو کەسر ،ەواى
زمانور بەسپين بشرنە گرخيدە

❀❀❀

کەدشمعي پلوشوتە ئي کتى شواى
پتنگ خاوري بەپەسرنە گرخيدە
دسرو گلو تقاضاکە خاموشى واى
پەنغمو بەبلبل سرنەگرخيدە

❀❀❀

مرور دطالع ستورى کەمي نەواى
نودلبر بەمرور نەگرخيدە
بختانيە لز زرە سوى کە داشناواى
نورقيب بەدپر زرەورنە گرخيدە

بختان ــ د ۱۳۳٦ دداو

داشعر دځار ندوی دغونډې په افتخار دننګرهار
دارالمعلمین په مېلمسیتا کښې فی‌البدیهه
جوړ او واوروللی‌شو:

ننه

څوکچه دخیرلاره کښې‌قدم وهی
مونږئې قدمونه په‌ليمو منو
څوکچه دخدمت ارزوپه زړه لری
ډېر په احترام ئې‌دا ارزو منو
څوکچه دانسان دترقی کړی څار
لارښارو دالار دځارند ومنو
څوکچه زمونږ پېژنی‌په اوزه اخلی
بار داحسانوئې په‌او زومنو
لاس ورکول سختوکښې اسان‌نه‌دی
مونږدغه ایثار دننګیا لومنو
رحم‌او عطوفت اوور وروللی سره
یوتربله مینه‌او پېرزو منو
بېښنه، اشرد ښېښنوالی دود
مونږچه ښېښانه یودا ښېښتومنو

د۱۳۳۶ دحوت ۹،

ارمان

غوټيو وسپړل گلونه
ما پورې خاندې چه مې گوري پرها رونه
خلك دې مېلې كړی او سېلونه
زه په ارمان یم دخپل اشنا

بوټی له خاو رونه جگېږی
خلك ئې ليد وته هوسېږی
زه تورو خاورو لره وړمه ارماندونه
خلك دې مېلې كړی او سېلونه
زه په ارمان یم دخپل اشنا

سيل ئې كوه چه : لاله زار دی
كه مې دتش ارمان مزار دی ؟
رایادوی دشهیدانو زخمی زړونه
خلك دې مېلې كړی او سېلونه
زه په ارمان یم دخپل اشنا
دبلبلانو ترانو كښې
دسوزو سازسوو نغمو كښې
زما تر غوږشی پرهرژلی فریادونه
خلك دې مېلې كړی او سېلونه
زه په ارمان یم دخپل اشنا

دنامرادو په بهار کښې
اورونه بلوي په گلزار کښې
لوگي تري جگ شي بيا پرې ژاړي اسمانونه
خلك دي مېلې كړي اوسيلونه
زه په ارمان يم دخپل اشنا
گلان ژړېږي اسمان ژاړي
ارمانجن ژاړي ار مان ژاړي
اخر به جوړ شي له دې او ښکو تو فانونه
خلك دي مېلې كړي اوسيلونه
زه په ارمان يم دخپل اشنا
وخت دغوټۍ دازادۍ دی
هم دخوښۍ اودښا دی دی
تم (۱) بختانيه به خندا گاله غمونه
خلك دي مېلې كړي اوسيلونه
زه په ارمان يم دخپل اشنا
جلال كوټ ـ د ۱۳۳۶ دحوت (۱۱)

---

(۱) تم: دمحاورې سره سم د «تههم» مخفف.

دلبره واخله سلام!

زه لاس په‌نام درته ولاړ یم دلبره واخله‌سلام ډك له اخلاصه
در ته سلام او احترام دی دلبره واخله‌سلام دامې كلام دی
چه غلام دې یم مینه دلبره واخله‌سلام ډك له اخلاصه

زمایه‌زړه کښې تلوسې دی دلبره واخله‌سلام ډېرې کیسې دی
خو حیا را ته راځینه دلبره واخله‌سلام ډك له اخلاصه

راځه چه شوو غاړه په غاړه دلبره واخله‌سلام زه‌او ته‌د واړه
دنیا تېره ده مینه دلبره واخله‌سلام ډك له اخلاصه

د بختاني دزړه دوا شه دلبره واخله‌سلام لږ په خندا شه
چه ګې لیرې شی غمونه دلبره واخله‌سلام ډك له اخلاصه

بختاني د ـ ۱۳۳۶ دحوت ۲۱

خاونده!

خاونده تا نه ئو ادمه بهار د پښتنوالي
چه وخاندي گلونه په گلزار د پښتنوالي

پښتو پښتوناري وي د مطرب په زېرو بم کښې
هم شور وي د بلبلو چنهار د پښتنوالي

غوټۍ د اميدو نو به مې وسپړي گاونه
چه هر پښتون زه وو ينم ماليار د پښتنوالي

ازاد لکه د مېر د خزان له گرد شو نو
سمسور دې وي مدام هر خدمگار د پښتنوالي

پښتومې په ايمان کښې ده ايمان مې په پښتو کښې
صحيح او شرعي کوم اقرار د پښتنوالي

پښتون يم خود نازېږم د پښتو په دغه [illegible]
چه شمېر د بختاني کوي سينگار د پښتنوالي

بختان ـ د ۱۳۳۶ د حوت ۳۰

(١٠٦)

روژه

دي دياره روژه نيسى مسلما ن
چه ئې ټينګه اراده شي په‌ټه شان

له‌حلا لواوروا وو ځان سا تل دی
دحرا ،وخيال مغزو ځنې‌ا يستل‌دی

چه‌په حال دوږ وتږو خبردار شي
نود بل وږی کولو نه بيزارشي

دهنه به څه روژه څه‌به‌اسلام وی ؟
چه‌مانپام کښې روژه ماتی ئې حرام وی

چه‌خوله‌نه تږی څکځلو اوغيبت نه
روژه نه‌وی له‌سودو نواور شوت نه

هسې شان روژه دخپل‌ځان ځورول دی
دغو يا نو اودخرودخو لې تړل دی

ځان روژه کړه دمظلو مو له‌ازاره
داسلام‌له تربيې شه خبرداره

بختا نيه چه‌په دي مطلب خبر وی
دروژ ی‌په خنمبد و به‌ئې اختر وی

بختا ن- د١٣٧٧ھ، ق‌دروژ ې(١١)

بندی او بندیوان

دمرز غوندې دبل دلاس بندی وی
چه له ورونو سره کاندی څوك جنګونه

مرز باز غوندې به خپل ژوندون ضایع کړی
چه دبل دبند پنوب لری فکرونه

لنډۍ

غم لکه سیوری راسره دی
هرچیرته دواړه وړاندې وروسته سره ځونه

زړه بیقوته رانه هیر شول
داشنا ورځ مدام په خوله ګرداڼومه

(۱۰۸)

غزل

«زړه چه مینشی ښایست نه غواړی
خوب چه راشی بالښت نه غواړی»

چه نام وننگ ئې عشق کښې تالاشی
هجران زپلی رسوا رسواشی
هنه، دنیا کښې پاښت نه غواړی

چه وی رټلی دخپل اشنا څوک
مدام نتلی ددلر اڅوک
پرنورو خلکو گرانښت نه غواړی

مینه ژاړه ځان بهدې خوار کړې
لا به زار لندې دزړه پرهار کړې
غوږ دې بې نیازو بالښت نه غواړی

ته حسن ئې سنایه ښکلا ئې ستایه
تل بخښنا نیه ادا ئې ستایه
جورو جفائې یادښت نه غواړی

جلال کوټ ـ د۷ ۱۳۳ دحمل (۱۸)

یادو نه: دغزل مطلع دپښتو مشهور متل دی ـ

شاعرانه اصطلاحات

«مجنون» د خپل وطن یمه «لیلا» مې راځی خولې ته
په «ښینه» کښې د مینې «دلربا» مې راځی خولې ته
«د گل او د بلبل» په رمز و راز باندې مې پوه شه
د شعر تقاضې دی «محبوبا» مې راځی خولې ته
قسم دی چه د گل غوندې په سرو سترگو زه ژاړم
چه ور برې خپه نه شی نو «خندا» مې راځی خولې ته
مړوې: جنت غواړم هم د گلونه ئې دې ورو کښې
«من» په دې ښکلایم چه «ښکلا» مې راځی خولې ته
د شر او د فساد عنصر زه په لمه «رقیب»
لعنت پر شیطانانو هر سبا مې راځی خولې ته
«جفا» د جفاکارو نه مې زړه ټوټې ټوټې دی
پخپله وفادار یم چه «وفا» مې راځی خولې ته
طبیب نه عفوه غواړم که ئې وخت ضایع کوم
رنځور مې لیلا ده چه «دوا» مې راځی خولې ته
په دروغو ئې تېر وځمه ناصحه تشکرا
رښتیا که درته و وایم رښتیا مې راځی خولې ته
پښتو پښتنولی پښتونستان چه یادوم
له ډېره نه پښتانیه داویا مې راځی خولې ته

بغلان د ۱۳۳۷ د حمل ۲۰

د تکرار صنعت:

غزل

دې کښې څېر تکې يم په ونړ وږم ښه بيار بار
گل ته هر سهر چه داره يم دعا لپار يار

ول په ول راناوله زړه سودا د تې د وز لغوشوه
خلکه! د گبر کېږي نور پښتون دا اشمار مار

زه ساده مېن يم راز نه پېژنم څېر چه کاره وايم
هيڅ ... ښه پښتو کښې دا نکاو کار

مصلحه ازار چا ازار هم ئي ازار به شي
ئن که سناونت دی سپارا به شي دخوار وار

هيڅ ئې تاثير نشته بختاليه په ربې ښيا زوږ
مات قلم د هيوات کښې چه شروانه دا اشعار عار

جلال کوت ـ د ۱۳۳۷ دنور(٦)

امیدونه

د ناامیدۍ د ختمېدلو امید بیا هم لرم
د زمانې د بدلېدلو امید بیا هم لرم
که نیم سوخته پتنګ په شان مې تېرېږي د ژوند
زه د دېوو د سوزېدلو امید بیا هم لرم
که پرون تېر دی نن ځئ زنه د سبا په تمه
د ګران وطن د لوړېدلو امید بیا هم لرم
که په نارو سورورمانې ادخ بدل نه شو هیڅ
د ویده قام د ویښېدلو امید بیا هم لرم
خوشحال وېل چې بېدار که ګڼې کاڼي د دېوال دي پښتون، (۱)
زه د کاڼو د خوځېدلو امید بیا هم لرم
و ژړا و خندنې شوم پښکاره خاندي
د دې ساده د یو هېدلو امید بیا هم لرم
که یو ببل کړې بند په بند ظالمانو توري
د پرهو د رغېدلو امید بیا هم لرم
بند په جادو که بختاني دي څه و وېلی نه شي
د طلسمو د ماتېدلو امید بیا هم لرم

جلال کړت ـد ۱۳۳۷ د ثور ۲۷

---

(۱) که مې خوړلي جوړ به مه نه ږېږي پڼي
پښتنا نه دي د کڼو کاڼو دېوال. (خوشحال خټک)

سلام

سلام و احترام دې وی سلام و احترام
سلام دې پر هغو وی چه خدمت کوی دقام

دقام د ابادی دپاره ځان چه خواروی
دخپل او لس دژوند دپاره سرڅرڅ بانوی
دژوندئې احترام کوو دمرګ ئې احترام

چه څوک دخپل وطن په ازادی باندې مین وی
دقام د درد دواری او په زړه باندې دردمند وی
په خواره زندګی کښې ئې هم او رګی مقام

چه لاس ورته نیوی او خواران پورته جیګوی
په ځای ئې دسیالی سرونه پوشان هسکوی
لایق دسر اوږی دی چه لری دا لوړ مرام

سلام د پښتنانی وی دوطن په زلمو باندې
لری چه پښتنواله پر هغو پښتنو باندې
سلام د ازادی په عاشقانو صبح و شام

پښتان ـ د ۱۳۳۷ دثور ۲۹

گوتی

مه‌مې وهه یاره په پرهار گوتې
داد مظلو مانو دازار گوتې

گوتې دې زما په زخمی زړه شوری ؟
باچیری پښتون داستعمار گوتې ؟

دی سوې په تکر یزو که په وینومې ؟
دا دی دسینگار اوکه دښکار گوتې ؟

گوتې مې که پرې شی زه بی(۱) پرې نه ږدم
راکه‌مې شی گوتوله دیار گوتې

نوردشیطا نانور پوښمه لوله
تل د بختانی لیکی اقرار گوتې

بختان د ۱۳۳۷ دجوزا(۲۰)

---

(۱) بی: دمحاورې سره‌سم د«به‌ئې» مخفف

ارمان

کله به تر سره شي ارمان زمونږ ؟
کله به وطن شي گلستان زمونږ ؟

څو پورې ژوندون بهوی پریشان زمونږ؟
کله په یو غږ به ځی کاروان زمونږ ؟

څو دنیا بو هی په ترږ می به یو ؟
کله به فکرونه شي روښان زمونږ

څو به غوڅوو لاس د نفاق په تیغ ؟
کله داخپل ځان به شي خپل ځان زمونږ ؟

څو به په موهومو اتکړو کښې یو ؟
کله به رسوا شي شیطانان زمونږ ؟

څو پورې به گورو داسمان په لور
کله به دا زمکه شي اسمان زمونږ

څوبه په جگړه کښې موړ او وږی وی؟
کله به ماړه شي غریبان زمونږ؟

څو د بختاني دغه وینا به وی!
کله عملي به شي بیان زمونږ ؟

جلال کوټ ــ د ۱۳۳۷ د سرطان ۲

غزل

وزمه‌بی(١)له لونکوجکید له‌دااوده‌وه

فضاکنهیٖ‌به مستی نه نخید له دا اوده وه

ددیٖ اودسپوزمی مسابقه به‌دشکلا وه

چه لو به‌به سپوزمی ورته بالله دا اوده وه

برسات به‌ئیٖ چه لیریٖ گریٖ‌خوریٖ‌خنیٖ لمخ نه

یه وریخوبه سپوزمی تریٖ‌پتهید له دا اوده‌وه

دمینی اوشکلایه‌ناز ونیاز و سوزوساز به

نغمه دبیداری ماغزو له دااوده وه

راشکاری چه‌زمازرائیٖ خوب‌کنهیٖ او ر یدله

بیوا که‌به‌چه‌کله مسید له ـ‌ااوده وه

دمینیٖ‌په جواری کنیٖ بغتانیٖ نه‌ئی زره و یوز

هستی به ئی له ویبن‌خلمی گتله دااوده وه

بختتان ـ د ١٣٣٧ ده‌رطان (٣١)

---

(١)دمحاوری له مخه د(به ئی)مخفف

دمشاعرې بلنه

راشۍ رفیقانو چه خوږه مشاعره وکړو
رنګ یو ودانۍ دپاره ښه مظاهره وکړو

ای دقام شاعره قام دې ویښ کړه په اشعارو
راوله تغیر ئې په احساس او په افکار و
هلته به دژوند په ننداره تون ښه ننداره وکړو

مړه زړونه ژوندی کړه که نفس دمسیحا لرې
لېرې ورانژدې کړه دوحدت که تمنا لرې
یولاس نه غږنه خېژی راځۍ چه مشوره وکړو

ژوند په بد لید وکښې دې بدل کړه دژوندون رقم
غواړۍ ابتکار له شاعرانو دمضمون رقم
رنګ دسرو ګلانو په رنګ خپله مفکوره وکړو

ښه زلمی لرو په پکتیا او ننګرهار کښې مونږ
هم په بدخشان بلخ وهرات او کند هار کښې مونږ
جوړه پښتیا ښا کښې دسرو ګلو منظره وکړو

ولیکه او ووایه دړنګو زړو دواشه ته
ای دترقۍ لیواله ستورې دسبا شه ته
پاڅه بختانیه چه نا چاروته چاره وکړو

ارغچ -خوږ یانی -د۱۳۳۷داسد (٤

نوي پښتون ته

را شي ، پښتنو لږه پښتو وکړو پښتو سره
ښه ښکاري پښتو او پښتنو واله پښتنو سره

پيغلې ارزوګانې له زلمونه ښه ځواني غواړي
دغې خوارې خاورې ته سينګار او ودانی غواړي
ځان جوړول ښه نه دي پښتونه ميړنو سره .

نوې زمانه نوي شراب نوي جامو نه دي
نوی د ساقيانو مکيز ونه او ستو نه دی
ګوره چه زړه بای نه لې ده وی له ستر ګکو سره

دوړو کښې دوړن که زمانې ګړې ورته مه ژاړه
ته خپلو زړو چينو نه پاکې او به وغواړه
پاکې زړې خيرې کړه دمينی له اوبو سره

ته ساده پښتون ئی ښه ښکاريږی سادګې سره
ځی در نه پښتوله چل اوول او له ټګی سره
مات کړه د ټګی طلسم خپلو غورزنګو نوسره

رنګه چه ځوك ودان کړی تل د هغو منت بار اوسه
ای د قام ليوا له بختا نيه خدمتکار اوسه
ويښ دې ويده قام کړه له خوږو مشاعرو سره

کږه ـ خوږ يانی ـ د ۱۳۳۷ د اسد (۵)

عرضونه

زلمیان ښه ښکاري دوطن له خد متو نو سره
ښکنګه‌چه دول وسینګار خوند کوي له نجونو سره

ملکه! ته دي عزیزانو ته‌چل مه‌جوړوه
دغلونه پاك او دپاکانو نه غل مه‌جوړوه
په رنځ‌اخته به دي او لادشي‌ستا کارونو سره

حاکم صاحبه! له حکمت سره حکمونه کوه
ته ئي حکیم‌شه درنځو رقام علا جونه‌کوه
کار به ونه شي تر قیامته‌کوتکونو سره

رئیسه! تل دي همکارانو باندي پام‌ولره
خاین شړه دصادقانو احترام ولره
تمیز په‌کارد خرمهري دی‌له لالونو سره

ای سوداګره! په پیسو دي ایمان مه خر څوه
ځان‌ته‌قیمت ورکړه‌لیلام کښي دي ځان‌مه خر څوه
سړی خوار یږی له نا حقو قسمونوسره

سر مایه‌داره! تاله کومه کړه‌داماله‌دولت؟
ته‌ولي عیش کښي ئي زه ولي تیرومه ذلت؟
اخر به مخ شي دسوالګرو دي سوالو نو سره

پيره! ته مونږ ته سمه لار دشريعت وښيه
دطريقت او معرفت او حقيقت وښيه
غوليدى نه شى څوك په سپينو لباسونو سره

شاعره! ورك شوې داوږ دو زلفو تيارو كښې رانه
لارې تحقير كړلې خو بانو په نعرو كښې رانه
دخداى دپاره قام دې ويښ كړه له شعرونو سره

اديبه! وليكه هم ووايه پښتو پښتو
خلكو ته ولوله هم وستايه پښتو پښتو
پښتون پښتون كړه دپښتو له تبليغو نوسره

قامه او اسه! لږ خوځان وجهان وپيژ نه
دسود وزيان دنيا كښې خپل څودوز يان وپيژنه
يا څه روان شه له روانو كاروانونو سره

دټولو مشره! بركت ستا حركت كښې غواړم
دمحبت و ږمه خوره ستا مملكت كښې غواړم
بغتانى غواړى همدردى خپلو عرضونو سره

كږه ـ د ۱۳۳۷ داسد (۵)

(۱۲۰)

ذوقافیتین:

رنگ

دمینې اشارو ته تفسیر ونه جوړ وم
دستر گواړو وته تعبیرونه لټوم

په غټو کتابو کښې چه تفصیل ئې نه ځا ئیږی
دعشق تر جمو کښې په عمرونه تیروم

دمال وسر سودا په محبت کښې نار واده
قسم دی چه په دې لار کښې مرکو نه قبلوم

چه درس دسر بازی لکه پتنګ سړی ته ورکړی
په داسې مکتبو نو کښې درسو نه لولوم

دا رنګ دمحبت نه دی نو څه دی بختانیه
دسرووینو په رنګ کښې چه شعرونه رنګوم

کزه ــ د۱۳۳۷ داسد (۵)

د گل پاڼه

پاڼه‌ده د سرو گلونو پاڼه‌ده
دغه دچاودلوز ړو نو پاڼه ده

ولو له دې پاڼه کښې دژوند سبق
ولوله بیاولوله‌د خوند سبق
دا خو د ښایسته رنگونو پاڼه‌ده

ولوله‌رمزونه دخندا پکښې
ولوله بیاولوله ژړا پکښې
داد خو ښۍ او غمو نو پاڼه ده

ولوله نکتې دارتقا پکښې
ولوله بیا ولوله اشنا پکښې
داد طبیعی‌درسو نو پاڼه ده

ولوله‌اغزو نه شکایت پکښې
ولوله بیا ولوله غیرت پکښې
داد پښتنو دغرونوپاڼه‌ده

ولوله‌دسرووینو چه رنگ‌لری
ولوله بیاولوله چه‌ننگ لری
دادپښتني خو یو نو پاڼه ده

ولو له چه رنگ دشهادت لری
ولوله بیاولوله نکهت لری
دا خو دزلمواو نجونو پانه ده
ولوله نغمې دبختانی پکښې
ولو له بیا واوله ثانی پکښې
داد آسمانی وازونو پانه ده

کزه ـ د ۱۳۳۷ داسد (د)

دفکرونوخاوندانو!

دحکمت ستر کې بینا کړی ،دحکمو نوخاوندانو !
عدالت باندې چلیږی ،دامرونو خاوندانو!

کوروکلی خپل اولس کنهې،هرسړی وی تړې په کړکه
ظالم خوښ دخدای هم نه دی، دظلمو نو خاونده انو!

لږ کیر ووئې غافل مه شی ، په تنکسو ورته لاس ورکړی ،
ده‌نا چاره ستاسې ورونه ،دمیشونو خا وند انو!

چه وطن لکه دوزخ وی ، یونیم کور پکښې جنت شی
شی گلونه په ئې مراوی، دباغو نوخاوند انو!

نورو خاورو کنبې چه رڼړی، هم ددې خا ورې ما من دی
واسمان ته خله کوری،،دقصر ونو خاوندانو !

په پیر زو باندې رنگینه،کړه ار زودې ارزو منه !
تل دنیا رنگینه کړې، دذوقونو خاوند انو!

بختانیه یاران وینی گړه،خوچه وینی داو یده قام کړه
ویده تل دا پاخولی،دفکرونو خاوندانو!

جلال کوټ، د۱۳۳۷ دمیزان(۱۰)

غزل

پرېشانې ارزوگانې زمازا نگی ستا اوربل کښې
اې یاره ستا دمخ په پلو شوزما قسم دی

خبر نه وم په دې چه دردلری درمان ئې نشته
لمسون چه ذ بیما رو ستر گوو یشتم په چل کښې

اې یاره ستا دمخ په پلو شو زما قسم دی

په عذر او عاجزی او په ژړا کړم ننو اتې
منظورې کړه، پښتو نیم، ښکځاښه نه ده بدل کښې
ای یاره ستادمخ په پلو شوزماقسم دی

نه وژنه که مې وژنې خوارزو به مې مړه نه شی
روح نه مری اودتن خوښه شك نشته په اجل کښې
اې یاره ستادمخ په پلو شوزماقسم دی

دغاړې جوړ امېل کړه داسوغات دبختا نی
داونهکومرغلری، ئې پېیلی په غزل کښې
ای یاره ستادمخ په پلو شوزما قسم دی

بختان، د۱۳۳۷ دمیزان (۱۱)

د یتیمانو په حق کښې

په زړه مینه کړې پیدا د یتیمانو
کړه قبوله التجا د یتیمانو

د مطلب اظهار ئې نیم او نیمکله وی
غور وکړه په و ینا د یتیمانو

په ژوندون او پس له مرگه به خوشحال شې
په خوښۍ او په خندا د یتیمانو

قهر مه کړه په یتیم (۱) که مسلمان ئې
ساته زړه په دلاسا د یتیمانو

ته یتیمې اوښکې مه گڼه ارزانې
«عرش خوزېږی په ژړا د یتیمانو» (۲)

د اخلاص او شفقت په سپر ئې نیسه
چه لگېږی ژړښېرا د یتیمانو

«د یتیم مخ کښې دعوی مخ دې چپ مه کړه» (۳)
ځان دې جوړ کړه خوږ بابا د یتیمانو

---

(۱) واما الیتیم فلا تقهر (الایه).

(۲) د حدیث شریف تلمیح.

(۳) د حدیث شریف تلمیح.

پښتون شه مسلمان څه که سورکافروي
هم ماماشه هم کاکا ديتيمانو
که هر څومره معتبر اودولتمن وي
زړگی مات وی خاما خاد يتيمانو

اې دزړه خاونده ته ئې دزړه واوړه
شه نسل اونسلا د يتيما نو

څان ترې ساته، ته ئې مال ته نژدې مه شه(۱)
مال خوړل دی ناروا د يتيما نو

په ښه وجه ښه کومك ور سره ښا يی(۲)
ټول حقونه کړه ادا ديتيما نو

درنخور وله زګيروو به ته ر نځورشې
که رنځور شوکړه دوا د يتيما نو

په تعليم او تربيت ئې لوی سړی کړه
شه عاقله ر هنما د يتيما نو
چه په علم کښې ادب ورته لازم دی
ادب ښيه شه پيشوا ديتيمانو
بخښتا نيه په قلم دې بر کت شه
چه دې واخسته دعا ديتيما نو

بخښتا ن د۱۳۳۷ دميزان ۱۲

---

(۱)(۲)، ولاتقربوا مال اليتيم الا بالتي هي احسن (الايه)

د سړو سره

قدره سړو وی له سړو سره
لوبې ډور د وی دوړو سره

هغه چه دخپلې غلامی کوی
یو مړی دوړی ته سلامی کوی
د پره ګې وی مینه دخو ړو سره

چیر ته چه دزړو نوا طمینان نه وی

ژوندې پر پښا نیوکښې اسان نه وی
فکروی تړلی اتکړوسره

خویورې بهستا یود پسر لی کلان
وخت ګې دکر لو کښې خووی خز ان
ئې که خه اشناتودو سړوسره

ویښ کړه بختا نیه داویده زلمیان
جوړ کړه نوی نسل ته رنګین عنوان
مهزړوه ځان دې دزړو سره

کامه، لنډه بوټ، د ۱۳۳۷ د عقرب ۲۲

پښتو شاعره شوله

نه مرګ منو نه دژوندون سازو سامان پېژنو
دخپل غم له مو زړا ده او غیران پېژنو

دین روانه شاعرشو ، دنیا شاعره ، پښتو شاعره شوله
ابرو مولاره، مونږه ورك شوو، کله ځان پېژنو

یو «پول» دپاره سل ذلته حقارته منو
د«افغانی» پسې نوم کله دافغان پېژنو ؟

افسوس افسوس ارمان چه شولو وړدژړا
جهان ځی مخکښې کله پل ئې دکاروان پېژنو ؟

که وینې تو یې کړو داوښکو په ځای هم لری ځای
ساحل نه پېژنو دنوح نبی توفان پېژنو

چه بختانیه کول هیڅ دی اوویل موشود پر
په دې ها ماکښې نه به ځان نه به جهان پېژنو

جلال کوټ ـ د ۱۳۳۷ دعقرب ۲۹

خزان

ژوند په خوښۍ کښې کله کله تراري جوړوي
غمچه له غمه وشرمېږي منظري جوړوي

ځای د خوښۍ اوس د غمونو ډرامو نیولی
مطرب په زیر و بم د غم سره لاري جوړوي

غوټۍ پرېشانه شوه د باغ د پرېشانۍ په اثر
سنبل پرېشانه پرېشانۍ کښې ننداري جوړوي

دغه منم قدر د زړو وي زرگرو سره
د مین زړه مخ مې نظر کښې نظاري جوړوي

چمن تالا شو مالیار رېږدي سره لړې ځني
بغنا نی غرق په تصور مشاعري جوړوي

جلال کوټ ــد ۱۳۳۷ دقوس (۱)

افسوس!

وطن موشاړ شو گلستان ئې په بېديا شو بدل
يا مې دستړو مغز و فكر په سودا شو بدل

ماغزه خو وران دي او غوږونه كاڼه شوي هم دي
كار او عمل چه په هاها او په غوغا شو بدل

د نابيناه و په بازار كښې بينا څوك پېژني ؟
قدر او قيمت د مرغلرو په ډېنيا شو بدل

چه د عزمونو په تپينګار مو يرغلونه وشوو
پښتني خوى د لوچكانو په خندا شو بدل

ناروغه شوي دي زمري د دغو لويو غرونو
چه ئې بيتاب غورځنګ د صبر په دوا شو بدل

پېښې د ښځو نارينه كوي او نه شرمېږي
د پښتنو ملي اتڼ او س په ګډا شو بدل

چه د اخلاص په ځاى لباس په ځلېدو كښې راغى
نو بختانه سټا اشنا په نا اشنا شو بدل

چارباغ ــ د ۱۳۳۷ د قوس (۳)

رنگین خاطرات

زما دفتر د خاطراتو بهٔ رنگین پاتهٔ شي
یکښې صفت بهٔ ستا د خال او د جبین پاتهٔ شي

د شین خال ستوری او د ورو مخو دا هلال ئې وینې
که زه فلك شم هم دا زړه بهٔ مې تر یې شین پاتهٔ شي

چه زړه دې نهٔ سوزی د چا پهٔ سوو زړونو باندې
دا ستا له مخوره به دا زړه زما خوږ ین پاتهٔ شي

د سپین کاغذ پهٔ مخ د سرو او ښکو کیسې بهٔ مې وی
د مال دارانو نهٔ بهٔ هم د پرسره او سپین پاتهٔ شي

لوړو بنګلو مخنې اخر به کنډوالې جوړې شی
د محبت لوړه ماڼی به پهٔ یقین پاتهٔ شي

پهٔ پښتو ژبه در تهٔ وایم چه مین دې یمه
پهٔ دې اقرار بهٔ مې شاهد اسمان زمین پاتهٔ شي

که تر خه خوله ئې ستا د شونډو مزه وڅکله
د بختانی خوازه شعرونه به شیرین پاتهٔ شي

گئیک _ کامه _ د ۱۳۳۷ د د لو ۲)

تشخیص

دانسان دژوند کمال عقل وادراك دی
وسیله ئې ددوام خوب او خوراك دی

اوغایه یکښې دښه ذوق په رڼا کښې
دښکلا دحقیقت پسې تپاك دی

خوب خوراك دژوندګی چه وسیله ده
غایه نه ده خو مهمه مساله ده

خوب ارام اوخواړه پاك او حلال ښه دی
دغاښونو صحت لویه مسئله ده

له تشویش دهاضمې نه به پریشان ئې
بغتا نیه ستا غاښو نه چه کنډاس وی

نو ضرور اول دغو علاج وکړه
کنه ستا چرتونه تل ډك له وسواس وی

جلال کوټ ـ د ۱۳۳۷ د د ر

دتوشیح صنعت :

ځویه !

ن... نار ینتوب باندې لوېږه سرېتوب ته نژدې کېږه !

همخندېږه هوسېږه همسېږه اوناز ېږه !

ص...صداقت دپاره لوی شه‌دېښتو پهسبق پوی‌شه

د «الله» ترنامه لحارشه دوطن‌نه قربانېږه !

ر.. را نژدې شه‌را نژدې‌شه زماغېږې ته‌زر گیه !

ښوبخری رانه‌واخله محبت‌باندې تودېږه !

ا ...ای زما دستر گو توره‌رب‌دې ساته‌له نظره

په‌رنجو دعلم‌وپوهې بیناکېږه ښایسته کېږه !

ف...فضیلت علم او ادب دی‌نه‌په مال‌نه‌په نسب دی

بر کت‌په‌حرکت دی سمه‌لار کښې روانېږه !

غ..غم‌دې ورکشه غمخوری کړه دغمجنو غریبانو

غورئې وکړه ښوکوی شی‌دوی سره‌بیا خوشحالېږه

ا ... ارزوګانې لرم تا ته‌په سینه‌کښې مرغلرې

دامیراث به‌شی درباته په ساتلوئې پوهېږه!

ن... نوردې سپارم پاك الله‌ته سعادت دې ترپنه غواړم

حق‌دخوینه وته دې پاموی تل‌پرهغو ښه‌لور ېږه

دادعا دبغتانی‌ده که منظوره شی مولاته

نصرالله ، نصرافغان‌کړې‌ربه مونږ باندې رحمېږه

بغتان د۱۳۳۷ ددلو۲۷

درحمان بابا کلیزې مشاعرې ته :

ښه شعر

ډیره سادګی او نزاکت لری
ډیره روانی او سلاست لری
وایی چه دنیا پیدا له مینې ده
لوی پیغام دعشق او محبت لری
ښیی چه ښکلا ښکلو جلوو سره
زیات له مرغلرو نه قیمت لر ی
تول باندې تللی او پهیلی وی
نظم اومساوات اوعدالت لری
سور چه دعرفان لهزمز موو اخلی
هسك ئې اسمانو نو ته، رفعت لری
یو قدم تر عر شه پو ر ې لار ښیی
پراخ ډګر دسیر اوسیاحت لری
ګډشي چه محکوم ژوند ونددقام سره
ظلم دحاکم نهشکایت لری
اوردبد خواهانو په نر مې وژنی
ښکاری تشدد ئې نفرت لری
هرچالره خپله ائینه ګرځی
بی رویه ریاچه صداقت لری

لار دهمدردی نښیی بې درد وته
دردلری ،دوالری ،صحت‌لری

دپرکوی تاثیر دهرچازړه‌باندې
لارلری پەزړونوکښې رقت‌لری

رازئې درازونو راز داری کوی
هرځه ورسره دی کرامت لری

فال‌ئې پەدیوان خلك رښتیا بولی
دپر چه جامعې سره الفت لری

حل‌دمعانی کړی اسانی سره
زښت دپر فصاحت اوبلاغت لری

«ښه شعر» پەالفاظو بیښ‌ندی نه شی
زورکرته زیات تردې صفت لری

لفظ ئې لەمعنا سره ترلی وی
قال ئې بیاد حال سره نسبت لری

سمه چەوینا شی لەکرد ار سره
هغه نودپرقدراو منزلت‌لری

پلاربەدمنکر پرې اعتراض وکړی
دغو مره افق ئې چه وسعت لری

شعرئې درحمان بابالو ستلی‌دی
ځکه بختانی ورته حیرت لری

بختان ـ د۱۳۳۷دحوت۲۷

جوړه‌شوه

غوټۍ په‌شانې خوله دې مسېدو ته‌جوړه‌شوه؟
که‌غوټه دزړګی مې سپړېد وته جوړه شوه؟

ارزو مې لکه بوی پټه پردو کښې‌دحیاوه
تاوخندل هغه هم‌خورېد وته جوړه‌شوه

دحسن بېغلتوب دې چه‌سینګار په‌استغناشو
زمادا زړه مینه‌نخېد وته‌جوړه شوه

مال(١)وخانده اې ګله! تاوې وزاړه‌چه ګل‌شې
بانه می دما شوم زړه زړ پېدوته جوړه شوه

دپو هې‌له حرم نه فکرئې ووت استقبا ل ته
چه‌پوه شوه چه‌لېلاروانېدو ته جوړه شوه

غوزونه ئې‌کاږه کړل بخښا نیه ستاپه چیغو
پروا نشته که ستاخوله چو پېدو ته جوړه شوه

جلال کوټ_١٣٣٧ دثور٢٢

---

(١) مال_دمحاورې سره سم د«ما و یل» مخفف .

حیرت

څنګه ژوندون څنګه روز ګار دی ؟
څنګه دنیا څنګه ئې کار دی؟

چیر ته ئه را غلی او پر کومه خوا روان یمه
دې ته ډېر حیران او پر یشان او سرګردان یمه

ډېره وه مشکله زندګی ډېره مشکله شوه
دغه معما وه لاینحله لاینحله شو

څه زما نه څه ئې رفتار دی ؟
څنګه دنیا څنګه ئې کاردی؟

پوه یم که ناپوه یمه؟ په دې هیڅ نه پوهېږمه
خو مره چه پوهېږمه سل هومره نه پوهېږمه

پوه خلك ناپوه مې بولی
دوی څنګه پوهان به وی ؟

پوه مې ناپوهان ګڼی
دوی څنګه ناپوهان به وی؟

څنګه عالم ؟ څه ئې ګفتاردی؟
څنګه دنیا څنګه ئې کار دی ؟

دردیم سرتر پا یه له تشخیصه بې نیازیمه
رازیمه نیاز یمه سوزیمه ګدازیمه

گل غوندي که خاندم نو سمدستي رژېږمه
وکه ژاړم هم لکه شبنم زرمحو کېږمه

دا څنګه باغ؟ څوک ئې مالیار دی؟
څنګه دنیا څنګه ئې کار دی؟

گل نه یم بلبل نه یم را شکاری یوځه بل یمه
داغ یم دلاله د زړه که او ښکه د بلبل یمه؟

وایې بختانی ئې؟ زه حیران شمه چه یم که نه؟
وکه وایم خم چېرې، بیا یې نه شم چه خم که نه؟

دا زړه وایی: زړه ناقرار دی؟
څنګه دنیا؟ څنګه ئې کار دی؟

جلال کوټ ــ د ۱۳۳۸ د ثور ۲۳

جهان دې وی ودان...

جهان دې وی ودان خومشورې چه پکښې وی
دوستي او ددوستي مذاکرې چه پکښې وی

دگل غوندې بهوسپړی غوټی دخپه زړ ونو
خنداو خوشحالی اوننداړې چه پکښې وی

سرشار به اولسو نهشی دژوند په لذتو نو
دمینې دساقیا نو اشارې چه پکښې وی

سمسور بهسم اوغرشی درحمت پهبارا نونو
پیر زو اودپیرزو هیلې اسرې چهپکښې وی

دجنګ اوربهشی سوړاوداسو ړجنګ بههم تودنه شی
دسولې اودروغې منظرې چه پکښې وی

دظلم اودا جبار ړینې به وچې شی بیخپله
خدمت دجا معې ته مفکورې چه پکښې وی

شعور دژوندانه بهراژوندی شی بختا نیه
دعشق اود نهایست مشاعرې چه پکښې وی

جلال کوټ ـ د۱۳۳۸ دجوزا(۱٦)

یو آشنا ته!

بل زده احتیاط جزه — سر په مشکلاتو کښې
کوره وارخطا نه شې — چې د ځا د ثاتو کښې

~~~~~~~~~~~~~~~~

گل نه که خندا غواړې — شه پیا د صبا ورته
سمه که دنیا غواړې — سمه کړه وینا ورته

خوږ شه خوږې د پرې کړه
خپلو خاطراتو کښې

څار د خو دغرضو کړه — ته بیا خو د غرض نه شې
لار د مسیحا نیسه — ځان ته دې مرض نه شي
دم قدم په شمار کښه — خپلو حرکاتو کښې

لوړ ښکارې معنا کښې ته — ستوری ئې رڼا لري

لار ښودی شې نورو ته — خوی در هنما لري

تېر شه له صورت ځني ، ځېر شه روحیاتو کښې
داوه اشاره غوندې — پوه یم چه بینا ئې ته
مرض د بهتانی واوره — ولې په سودا ئې ته

مه خوره دخپل سر ماغزه
یو چو خرافاتو کښې

چېر هار - د ۳۷ د ۳ (۲۲)
~~~~~~~~~~~~~~~~

څه کوي؟

فخر په فهشن دارو پا کوي
ږيرې دبابا پورې خندا کوي
غوږئې اوريدی نه شي دچا ژړا
يار سره په سټر کوکنې خندا کوي
شوق ئې چه نايلون سرمزيات شوی دی
تو کې مسخرې اوس په خمتا کوي
ځان نه معتبر ګڼي سينګار دځان
ځان پرې خرڅوي څنګه سودا کوي؟
غاړه نکټاۍ يی سره تړلې وی
غاړه که شوه بنده ، څه پرواکوي؟
وې چه لحم مکتب ته ، ميغا نې ته‌لاړ
فکر د ساقی اود صبها کوي
فکر ئې پرېشان شوله نيشې سره
وا يی چه اتڼ کوم ، نڅا کوي
چوپ‌شه بختا نيه نور څه مه وايه
هغه په مستي کښې‌دی ، ښکنځا کوي

کابل- ميوند وات د۳۸د ٦(٥)

دچا په خاطر؟

دخوار یتیم اود گدا په خا طر
دهرغریب او بېنو ا په‌خاطر
په‌پر هروگي ملهمونه کښېږ ده
دزخمی زړه دتمنا په خاطر
په‌بې دردی وریو ري مه‌خانده نور
ددرد مندانو دژړا په خاطر
زیړو ښهروته په‌نفرت مه گوره
دسرو گلونو دخندا په‌خاطر
له‌سپهرو مخو نه کړه دوږي پاکي
دپاکې خا ور ي دښکلا په‌خا طر
چه زما نه‌ئې‌په ښپېرو و هی
رحم پرې وکړه دمولا په خاطر
پیو ندئې کړه د محبت په‌کو شهر
دماتوزړو دتمنا په خا طر
لزئې خو شحاله کړه که‌غواړې خوشی
دغمجنا نو ددعا په خاطر
ازار ئې‌ماخله چه‌ازاربه شي ته
دخوږ پدلو دښېرا په خا طر
اي بختا نیه خواران خوارمه گڼه
دگران وطن دار تقاپه خا طر

کابل ـ ابن‌سینا واټ ـ د ۱۳۳۸ دعقرب ۲

خواست

ژوندون غواړم دیوهې په مثال مې سوزوه
ایره مې چه توتیاشي په کمال مې سوزوه
ړانده چه بینایان او بینا یان لیاري ته سم کړي
ذهنه فکر په حسن او په جمال مې سوزوه
ملنګه! په انګارد محبت مې سپېلنی کړه
دقام لویه جرګه کښې په دې خیال مې سوزوه
چه ستوري مې دقام پورته له لمراو له سپوږمۍ شي
نظر ئې په ما، مات کړه په دې حال مې سوزوه
په شعر کښې بختانیه لږ پیدا څه سوز وساز کړه
ددې سوو نغمو په سور او تال مې سوزوه

ننګرهار - شکه - د ۱۳۳۸ دحوت (۲۰)

دشاعرخیال

شاړومیرو کښې شاعر پټه دنیا لټوي
په منظرو کښې دخیال حسن او ښکلا لټوي

کله له غمه ژاړي   کله موسکی شي خاندي
دګل په پاڼو پاڼو   ژړا خندا لټوي

❀ ❀ ❀

هسک شي او هسک ته خېژي   غږیږي ستورو سره
په مخ دلمر او سپوږمۍ   مخ دآشنا لټوي

❀ ❀ ❀

دکهکشانو په لار   ځي په تکل او په ښار
اوږده مزلونه کړي اندې   ورکه رڼا لټوي

❀ ❀ ❀

راکوزشي زمکې خواته   په غرو رغونو سرشي
داغ دغاټول په زړه کښې   بیا په بیدیا لټوي

❀ ❀ ❀

څه سرګردان ګوندې شي   دلیونتوب په نیشه
وايي مجنون یمه زه   خپله لیلا لټوي

❀ ❀ ❀

شیدا بلبله شي بیا   باغ و بوستان ته ورشي
ګل ته سلام وو ايي   دا محبوبا لټوي

❀ ❀ ❀

په څاروڅکلو ور شي　　　　د ملنګی په لباس
کچکول په‌غاړه ولاړ　　　　ګدا نته سو دا لټوی

● ● ●

ژاړی د ورد منو سره　　　　خاندی بې دردوپوري
د بې دردی د مرض　　　　درد او دوا لټوی

● ● ●

په لټه لته‌کړی خیال دشاعر د غسې
دبختانی‌دی ربیار- حسن‌اوښکلالټوی

شکه- د۱۳۳۸ دحوت ۳۰

● ● ●

نگه پښتو

پښتو

ژبه مې پښتوده په پښتو باندې گرېږمه
لوړه به‌ې پښتو کړم له پښتو څخه ځارېږمه
دازما تکل دی د پښتونه اوښتی نه‌شم
هرڅه نه به تېر شم له پښتونه تېر بدی نه‌شم
ځو به په‌دې لار له سمې لارې ستنېدی نه‌شم
مینه پښتنه لرم په‌دې مینه پاڅېږمه
دا تېر، اولس دازما ورو نه پښتانه دی ټول
ټینگ په‌پښتنواله اوپښتوچه ‌ې ستانه دی ټول
ننگیالی ټوټوا لی او سپکوالی چه در انه دی ټول
وروڼه که‌مې لوړ شي نو دازه هم بیا لوړ ېږمه
وایم د پښتو په خوږه ژبه او سوچه ژبه
ژبه د پښتو او پښتنوده دا یوه ژبه
دغه ده دیت‌اودرښتیا د غه نکه ژبه
خو نه کوی خبرې چه په‌دې ژبه غږېږمه
مادسړی یتوب لارې زده کړی له پښتو څخه
نه اوږم له‌دینه که‌شم ځوړ ندد و پښتو څخه
خوند موندلی نه شي بختنا نیه او پښتو څخه
ژوند مې په‌پښتودې په پښتو به‌ږ مړ کېږمه

ښکه – د ۱۳۳۸ دحوت (۲۱)

کرد ګلو کړه!

(کرد ګلو کړه چه سمه دې ګلزارشي)
ګل ته وخانده چه ژوندې نوبهار شي

پهخپل ځان باندې قبول کړه زحمتو نه
پهراحت بهدې بدل زحمت اوزیار شي

دسرو ګلو لهخندا سره به خاندی
دبلبلو دژړا سره چه یا رشي

ابادی ته چه ئې مینه وي په زړه کښې
نو له مینې بهئې جوړ ښهمر غزارشي

بر کت پهحر کت کښې خا وند ایښی
په لڅی اونڼبلی کښېسړی خو ار شي

دامې زده کړه دسرو ګلمو له سر و پاڼو
چه اغزی کړی پهپښو کښې به ئې خار شي

بختا نیه دبهار له رنګینو نه
رنګینه لکه بهار بهدې اشعار شي

شکه - د۱۳۳۸ دحوت ۲۱

سیل

زه سیل د مرغزارته ځم
دګران اشنا دیدارته ځم
هر ګل چه بویوم پکښې
یار مې لټوم پکښې
دسرو ګلو ګلزارته ځم

زه چه دسرو ګلو خنداووینم
پکښې مسکا دخپل اشنا وو ینم
دسحر پرخه مرغلرو په شان
یو ځه تصویر مې دژړا وو ینم

چه سنبل وو ینم پرېشانه شم زه
دځنو یاد کښې ئې سرګردانه شم زه
دګل په څنګ کښې داغزو په لیدو
رقیب رایادشی اوستومانه شم زه

دسهیلیو دپوځو نو سره
چمن تالا شي مستونجونو سره
عقل وخرد رانه تالاوالاشی
چه ګل مې نه وی سره ګلونو سره

چمن چمن ګلان ګلان دی اشنا
په سوز وساز کښې بلبلان دی اشنا
دبختانی پکښې څه برخه نشته
چه ترې جداخوا ږه یاران دی اشنا.

وطن

داوطن داګلش دی زما
دامسکن دامدفن دی زما
له وطن نه که ځادزما سرشی
هلته خاورې دتن به مې زرشي
زړه ددې ارمانجن دی زما
داوطن داګلشن دی زما
ماته جوړ ډا وطن ګلستان دی
ترقي ئې دزړه مې ارمان دی
خودچه روح دبدن دی زما
داوطن دا ګلشن دی زما
درڅونو درد ونو دوا مې
داوطن دی هم دین هم دنیامې
هم جنت هم عدن دی زما
داوطن داګلشن دی زما
د پښتو پښتنوالي هیوا د
خدای نه غواړم ودان اوا باد
چه زانګو دا ړ ین دی زما
داوطن داګلشن دی زما
بختاني دوطن خدمتګاردی
یخپل سرئې خدمت ته تیار دی
دسرو ګلو چمن دی زما
داوطن دا ګلشن دی زما

جلال کوټ ۱۳۳۹ د سرطان

(۱۵۰)

ښه ده

داشنا دخولې څنګښتا مې درقیب تر قنده ښه ده
دائرخه دواړې زړه ته دهغه ترخونده ښه ده

که هجران وي که وصال وي هر کلی کوم د دواړو
ماته مې ښه خویه مینه تر بې مینې ژونده ښه ده

بوهه وایې احتیاط کړه مینه وایې سر قربان کړه
دد غې داپښتنواله دهغې تر پنده ښه ده

که مجنون یم دلیلایم د ییسواو دنیا نه یم
دحریص ترو ډیو سترګو زما وازه تنده ښه ده

بخپانیه اشنا ستایه هم ئې نازوادا ستایه
چې دښکلو ثنا نه کړی نو ستا ژبه بنده ښه ده

اکام ـ د۱۳۳۹ دسرطان ۱۶)

داکام په خوږ کښې:
یورنګین مابنام

دسپین غره دبزرګې څوکې

ننداره

دخپل وطن دلوړو غرونو په اوږ تیا مې قسم
دبزرګو څوکو په عظمت اواعتلامې قسم

پەلوړوغرو دخدای نظردی وی یه سرئې‌واوري
هم‌ئې لمن‌کښې دګلونو په ښکلامې قسم

په صفایی دسپینو واوروا وپه تور وږ ږیځو
په تورو زلفو اوسپین مخ دمحبوبامې قسم

کورو تیاروکښې ئې دژوند رڼا برېښنا ځلېږی
دژوندګی په دې تیارو اوپه رڼامې قسم

چه ئې عظمت ته دنظر خولی له سره لوېږی
په عظمت‌ود قدر تونو دمولا مې قسم

پناه له ونودځپوږ مې یه پټ پټانې باندې
په سره افق درنګینیو په دنیا مې‌قسم

په هره تړه کښې‌ئې ځالی دز مرولیده شی
چه‌پکښې اوسي تل زمری په پښتو نخوامې قسم

دمور شودې دی که روانې دی په خوږ کښې اوبه
د کرانې مور په خواخوږی اوپه عطامې قسم

چه سر په نثار کړم ددې غرونو له سرونو منې
په قربانی دا براهیم خلیل الله مې قسم

دغرونو هسک سر و نه ټیټ به نه کړم هیڅ چاته زه
ای بهتانیه په پاك نوم دپاك الله مې قسم

د۱۳۳۹ د سرطان(۱۶)

یانصیب !

گل نه چه زه گورم نو مې ستر گو کښې گلو نه شي
لاس چه ورته تېر کړم له اغزو مې ډکلا سو نه شي
د پرساده سړی وم په خندا باندې ګې تېر و تم
اوس مې په بې ځایه زړه با یللوار ماند و نه شي
دغه د کاغذ په گل کښې هیڅ بوی د وفا نه و
د پر د پر غولېد لی لکه ما پری عالمو نه شي
تمه د وفا له جفاکا رو نه جفا ګڼه
خاورې د بې نیازو په درگاه کښې ا مید و نه شي
خانده بختا نیه چه ژوند ون ډک له غمو نو د ی
گل په خندا پانې پانې پا ته له ژوند و نه شي
کابل ـ شاه شهید ـ د ۱۳۳۹ د اسد (۱)

په ګران پښتونستان مې قسم

دپښتنوالي او پښتو په لوړ عنوا ن مې قسم
هم په پښون او هم په ګران پښتو نستان مې قسم
دلوړو غرو په تېر و څوکو هيبت ناکو د رو
دقام په او يه حوصله او په لوړشان مې قسم
په تاتره ، په هيند و کښ ، په کونړ، سپين غرمې دېوی
دپښتو نخوا په پاکه زمکه او اسمان مې قسم
دلويو غرو . لويو کورونو په لويوالي باندی
په لوی وطن دلوی پښتونه او لوی افغان مې قسم
داموسيند په متانت د رباسيند په څپو
د عواطفو احساساتو په توفان مې قسم
دننګياليو، پوهياليو، پتياليو په روح
په ننګ او توره او قلم دخو شحال خان مې قسم
دبيګناه بندی په جرم او دشهيد په مزار
دازادی دارمانجنو په ارمان مې قسم
په بيواکی دپښتنو پښتونستان کښې چه دی
دعدالت اواز ادی په دې دوران مې قسم
دپاک الله په مقدس ذات او صفاتو باندې
هم په صمد او په غفار، غنی، رحمان مې قسم
چه غلا مي نشته اسلام کښې نه په کفر کښې اوس
نه په پښتو کښې ای پښتونه! په قر آن مې قسم

که زړونه یوشو ونو لاسونه به نژدې‌شی‌سره
دمحبت او دیووالي په پیمان مې قسم
خود غرضیونه که تېرشوونومرادته رسو
په صداقت اوپه ضمیر اوپه وجدان مې قسم
پښتو که خرڅه په پیسو شی ، شو وبه ورږدژوا
دبختنانی په شرافت اوپه ایمان مې قسم
کابل — میوند وات - ۱۳۲۹ دسنبلې۹

● ● ●

یاره

داغ مې په زړه کښې پیدا شوی ستاله خاله څخنې
پکښې داغونه نور هم شته دقام له حاله څخنې

که رنګ مې زیړ دی ستا دسرو شونډوشربت په تمه
نور هم زیړ یږم دسرو ستر ګو له احواله څخنې

شمه پریشان چه داستا زلفې شی پریشانې په مخ
لاړ پرېریشان شم دپریشانو له جنجاله څخنې

څه رحم وکړه چه زه ژاړم ستا خنداد یاره
غمجن ژړاکښې رحم غواړې له خوشحاله څخنې

ښه کمالداره ئې په ناز اویه مکښز او ادا
دبې کمالو څه فایده ستاله کماله څخنې

اې دجمال ملکې! ګوره غریبا نو ته هم
زکات کښې غواړی تش کټل ستاله جماله څخنې

ګلونو تانه رنګ اخستی خولا له رنګ شوې
د شهیدانو دبیرغ له استقبا له څخنې

بخښتانی دوو کښې راګیر دی په جذ بود مینې
خوښېدی نه شې له فراق اوله وصاله څخنې

جلال ګوټ ـ د۱۳۳۹ دمیزان(۲)

ثواب دمینی

دحق دیدار گنۍ ثواب دمینې
دامې لوستلی په کتاب دمینې
له هر شراب نه به توبې وباسی
چاچه نوش کړی وی شراب دمینې
ژوند په زندان کښې گلستان غوندې شی
یکښې غږیږی که رباب دمینې
زه او اشنا حیران یم دوه یو که یو
حساب کښې نه راځی حساب دمینې
زه که هغه شم نو مراد ته رسم
که نه هم دا به شی حجاب دمینې
ارزو مې لویه ده که داوره ده
ذره جلوه کاپه افتاب دمینې
هستی دې با یله د نیستی په سیند کښې
ای بخت انیه شه حباب دمینې

جلال کوټ ـ د ۱۳۳۹ د میزان (۲۰

وړاندې تګ

ژوند ون په حرکت اوپه قوت وړاندې ځي
قوت په انتظام اوپه حکمت وړاندې ځي
چه مینه اوپېر زوا وورور ولې وي په هرچا کښې
قومو نه په جذبو د محبت وړاندې ځي

په ظلم او استعمار کښې په هر رنګه بربادی ده
دنیا دازادۍ په عدالت وړاندې ځي

شخصي غرض، مرض دی چه کورونه ورانوي
کارونه په ایثار او صداقت وړاندې ځي
دلوړ مقام خاوند به تورو خاورو کښې ګزار شي
هغه که په ټګۍ اوپه خیانت وړاندې ځي

په زړو کښې به ئې ځای وي چه ئې زړه په چا خوږېږي
دزړو نو خاوندان په شرافت وړاندې ځي

اسو نه د پېر چه ځغلی چه اور بشې ئې شي ډېرې
انسان دسرېتوب په کرامت وړاندې ځي

دهقان چه خواری وکړي نو مراد به ئې حاصل شي
وطن د ښو ځوانانو په خدمت وړاندې ځي
مالیاره په خوله لو به دې راشنه شي سره ګلان
دبڼ د سرو ګلانو، به زحمت وړاندې ځي

چه‌لاره پاکه صافه وی‌له غلو اود اړه مار و
اولس په‌اطمینان‌او امنیت وړاندې ځی
لاس راکړه بختنا نیه د پښتو ژبه یوه د ه
پښتون په پښتنواله او همت وړا ندې ځي

جلال کوټ۔ د۱۳۳۹ د عقرب (۸)

سلا م !

دگران وطن پهٔ هر خواخوږي خدمتګار مې سلام
دخدمتګارو پهٔ شرف او افتخار مې سلا م
چه ئې پهٔ زيار له سپېرود ښتونه ګلشن جوړ ېږي
پهٔ دېره مينه دسرو ګلو پهٔ ما ليار مې سلام
سر به تري ځار کړم چه سر ځار کړي له وطنه ځني
د بېوفا و نه توبه ، پهٔ وفادار مې سلام
ور ته څرګند به دزړه راز کړم چه مې زړه پالي څوك
چه زخمي زړه ته مې ملهم شي په دلدا ر مې سلام
تو ټې ټوټې يم د نفاق او تر بګنې پهٔ توره
چه کړي خبرې دياري پهٔ هغه يار مې سلا م
چه دخوا رانو سلام ناخلي او اسمان ته ګوري
هغوته تېر يم ددې خاورې پهٔ نادا ـ مې سلام
چه ځان نه تېر شي او تېر نه شي له وطنه ځني
ددې ځوانانو پهٔ همت او په ايثا ر مې سلا م
چه دولس راحت دياره زحمتونه ګالي
اې بختا نيه پهٔ هغې فداکار مې سلام

ښختان ـ د۱۳۳۹ دقوس ۷ شپه

د پښتو درس

ښايي پښتنوا له او پښتو له پښتنو سره
ښه ښکاری ميړانه او همت له ميړنو سره

مينه ، محبت اوورورولی پښتنولی کښې وی
خوند کړی ناسته پاسته د پښتون له ميلمنو سره

نوري کيسې پريږده اې پښتو نه ته کيسې لري
نوې کيسې پوهای کړه له تېرو افسانو سره

نوم او نشان وساته د تېرو نو ميالرو دې
نوی ژوندکړه غوره له دې نوو زمانو سره

فکر دسباکه لري حس د پرون وساته
تک د زمانې دې برابر کړه اوسنو سره

اې دلوی پښتون بچيه لوی وطن وحدت غواړی
پام کړه چه برباد نه شې د کورله تر بگنو سره

لوبې دوړوونه کړی هغه چه لوی مرام لري
گوره بغتنا نيه چه مل نه شې لبونو سر

بختان - د ۱۳۳۹ د قوس (۷) شپه

غزل

مطلع مې دغزل داشنا مدحه اوثنا ده
مقطع مې دمزل دعشق په‌لاره کښې عمد اده
دګل خندا که نه‌وای دبلبل ژړا به نه وای
منبع مې دامل دیار دسروشونډو خندا ده
مین دی چا ستون کړی په‌ر تللو ځړا بوڼو
مرجع مې دازل نه‌لیکل شوي ستادرګا ده
هغه چه‌پرې خوښېږی زه‌به ولې راضی نه یم
موقع مې داخل داشنا خوښه‌او رضا ده
وفااوکه جفاکړې بختا نی ته‌ښه ښکار ېږی
مزرع مې دعمل سرسبزه شوې په وفاده

بختان ــ د۱۳۳۹ دقوس(۷)شپه

***

خاطري

چه‌رایا دي راته تېرې خاطرې شوې
نو تیارې مې به زړه کې باندې خورې شوې

حال مې دادی استقبال کښې به څه حال وی ؟
ژوندانه ځنې مې جوړې مسخرې شوې

درښایه تصور مې ځان ستی کړ و
په‌دې هڅه مې صورت خاورې ایرې شو ې

دلمر مخی هغو شوخو پلوشو کښې
بیا زما خاورې ایرې ذرې ذرې شوې

دادمینې کرشمه که‌دېڅلاوه ؟
چه‌مې جوړې په‌ذرو کښې ننداړې شوې

باده! ستاله دې توندی هم‌تشکرا!
چه‌ذرې مې په هرځای خورې ورې شوې

په‌خو دی اوبیخود ی دبختا نی کښې
دذرې اود افتاب مناظرې شو ې

بختان ـ د١٣٣٩دقوس(٧)شپه

غزل

څو پورې په ما کوې جور وجفا رنګه رنګه
فکر مې پرېشانه شو زړه شو زما تنګ تنګ

زه په تا مين يمه ته مې شوې تربور ولې ؟
زه درته زارى کوم ته کرځې مغرور ولې ؟
بې شرطه تسليم يم زه وايې اشنا جنګ جنګه

دومره چه بې زړه يمه تارانه زړه وړى دى
داڅنګه افسون په ما تا جادوګر کړى دى ؟
زه در نژدې کېږمه ته کړې له ما څنګ څنګ

شى به تور و ورېځو کښې شرمځنې سپوږمۍ پټه
ستا سپينه څېره چه کړى دزلفو ترږمۍ پټه
ښکارى دې په مخ زلفې شام و سبا چنګ چنګه

ستر ګې دې خو نخوارې دى زه خو ګناګار نه يم
ماکه ګناګار بولې زه بيا ترې انکار نه يم
زړه دبختا نى دې کړو مستې ليلا رنګ رنګه

کابل ــ شاه شهيد ـ د ۱۳۳۹ د جدى ۱۸

واوره

شاعرد پسرلی گلونه ستایی په غزل کښې
له ما ځنې دژمی سپینو واورو نه څه وا وره !
بهار دتا زګیوه ناز کیو سره تېر شو
کار وان درنګ وبوی اودښکلا راځنې هېر شو
دګل اودبلبل اوس نه خنداشته نه ژړاشته
نه باغ کښې رنګینی شته نه بلبلې نه بو راشته
لغړې شولې ونې چه تازه وې په بهار
ځواب وایی کابل دتاوده هاړد ننګرهار د
ساړه بادونه لګی دګر میوپه بدل کښې
شا عرد پسر لی ګلو نه ستا یی په غزل کښې
دختو دکو خونه اود لارونه څو اوره !
له ماځنې دژمې سپینو و اورو نه څه واوره !
په دې سپینه خله کښې سپینې واورې راورېږی
له کوره چه بهرشی له یخنی ځنې ارزېږی
چه اوروی لګیدلی بخاری کښې څه سودا ده ؟
چه غرق څوك ترغوږووی سند لی کښې، څه پروا ده ؛
پلاو چلاو تیاروی ورسره دلانددې غوښه
حالته اوسنتره، وچه میوه دهر چا خوښه
خوندونه ترې په اخلی چه نیکمرغه ږی ازل کښې
شاعر دپسر لی ګلونه ستایی په غزل کښې

چه برخه‌ئې وی‌خواره دنادارو نه‌څه واوره !
له‌ماځخنې دژمی سپینو واورو نه څه واوره!

خونداخلی تماشهٔ کښې چه‌د واورومنظر گوری
چه‌ناست وی په‌بنګله‌کښې اوښیښونه بهرگوری
هغوئه دې‌ئپوس کړی‌چه‌څه وایی په‌زاری کښې
چه‌گرځی څوك دبانډې غریبی اومزدوری کښې
دژمی شپې تېر یږی په‌سرو سړو آهونو
دواورې مقابل کښې په ایرود حمامونو
داهم دخدای بنده دی چه‌کیر شوی په‌څه‌چل کښې
شاعرد پسرلی گلونه ستایی په‌غزل کښې
مالداره!دوطن له‌دغو خوارو نه څه واوره
له ماځخنې‌دژ می سپینو واور ونه‌څه!واوره!
یتیم دی، بېنوادی ، خدای وهلی، بخت ر تلی
بدبخته، نامراده،غم زیلی او ئتلی
هغه بل مسافر چه‌په کوڅو کښې سرگردان دی
نه‌ځای اونه اشنا لری ددرست خلکو مهمان دی
په دغوسپینو واوروکښې ولاړ په‌سپین میدان دی
پېسې‌ئې جیب کښې نشته دپر حیران اودپر پرېشان‌دی
دداسې غریبانو څه شك‌نشته په‌اجل کښې
شاعر دپسرلی گلونه ستایی په غزل‌کښې
چاره ئې که کوی‌شې له ناچارونه څه واوره !
له‌ماځخنې د ژمی سپینو واو رو نه څه و او ره !

که‌اوره که باران دی. وایی دادخدای رحمت دی
افسوس دی‌چه دخدای په‌بندگانو څه‌زحمت دی
که‌واوره دېره وشی پسر لی به‌گلالی شی
ارمان! رځینو وسه‌کښې‌نه اوراونه‌کالی‌شی
منم ،واوره سپین زردی، چه‌اسره نه‌وی‌نوڅه ؟
بازارکه په‌تنکه شی‌چه تنکه‌نه وی نوڅه ؟
دواورو زور او به شی‌دزر داروپه محل کښې
شاعردپسرلی گلونه ستا یی‌به غزل کښې
بې زره دې کابل وی‌له‌زرداروڅه واوره
بې واورې دې‌کابل نه‌شی‌له‌واورونه څه واوره !
بیشکه‌چه خونمونه اونهشې به وی شراب کښې
گرمی‌او کااوری اوانرژی به وی کبا ب کښې
مطرب دزمانې داغزوله په‌رباب کښې
که فکر دې روښان وی فکر وکړه په‌دې باب‌کښې
دوزوله عذاب نه‌به ماره شی‌په‌عذاب‌کښې
دیوغړی له‌درد سره وجود شی اضطر اب کښې
هوس‌دغومره‌بس دی یوڅه څیر شه خپل عمل‌کښې
شاعردپسر لی گلونه‌ستایی په غزل کښې
دلوخو اوبېوزلو له اسرا رونه څه واوره!
له‌ما څخې دژمی سپینو واورونه‌څه واوره!
له صفرنه که تیتې د رجې دحرارت شی
وطن کښې که دواورو او‌سېلیوجوړقیامت شی

پر وانشته که زړونو کښې مو بل دمینې اورو ی
دماتٔ زړه دتسل اودلداری موزړه کښې زوروی
فرق نه کوی کابل که دپرو واورو ځنې سو ړشی
افسوس ! که دبهای زړه غریبانو ځنې مو ړشی
آخر به پښېمان نه شی که څوك ښه وکړی اول کښې
شاه ردپسر لی ګلو نه ستایی په غزل کښې
په زړه، دبختانی له دې اشعا رو نه څه واوره!
له ما ځنې د ژ می د سپینو واورو نه څه وا وره

کابل ـ شاه شهید ـ د۱۳۳۹ دجدی ۱۸

د ښاغلي لوممباوفات

چه په حق باندې مين شي
ژوندانه کښې خوار و زار شي

بندي کېږي وژل کېږي
د هر چا دستر گو خار شي

❁ ❁ ❁

ژوند کښې ئې نه کېږي پوښتنه
څنگه سخت زړه دانسان دی؟

پس له مرگه ئې هاها شي
ډېر افسوس او ډېر ارمان دی!

ميوند واټ ـ کابل د ۱۳۳۹ د دلو ۲۹

★❁★

اختر دې مبارك شه!

زړه ارزومې شوه په نوې تمنا بدله
چه په هوا کښې تغير راغی شوه فضا بدله
د نوی کال د نوبهار دهر کلی د پاره
د يار په شونډو کښې ښکاره شوله موسکا بدله
اوس خو يخ تېر دی نو اختر دې مبارك شه اشنا !
په غرو لو ستر گو وگوره دنيا بدله
بوټی له خاورو نه تو کېږی، گل له بو تو ځنې
حجاب نه او وزی مستورې ده تقاضا بدله
دخرابات زوړ گنهگار زاړه خمونه کړل مات
د ميو جام دی بدل شوی هم مينا بدله
دژوند سرود نوی اهنگ نوی مقام غږوی
د بېنوا بلبل نغمه کښې شوه نوا بدله
په خوشالی کښې د غمجنو لز تپوس دی په کار
دزړه اواز د بختنا نی کړی له وينا بدله

کابل ميرويس ميته ـ د ۱۳۳۹ دحوت ۱۹

درحمان بابا کالیزی مشاعرې ته:

اې بابا!

رارسیږه رارسیږه لویه پیره!
په دې خپل مخلص مرید باندې زهیره!
اوس چه ستا په یاد خوږه مشاعره ده
دادب اود اخلاص مظاهره ده
په اخلاص کښې مې کمی نشته مخلص یم
خو ادب کښې دومره څه نه یم ناقص یم
ځکه لږ څه بې ادبه شان غزیږم
له موضوع اوله مقامه بهر کیږم
خوندمې تلې له تقریر اوله تحریره
رارسیږه رارسیږه لویه پیره!
دغو به په وینا کښې وی څه خوند؟
چه بې خونده ئې د مرګ غوندې وی ژوند
دغو به څه ادب څه به هنر وی؟
چه ئې قام ټوټې ټوټې اودر په دروی
چه باغچې دا روز ګانو ئې وی شاړې
د ګلانو رنګینی هلته څه غواړې
مصور ئې شی خواشینی له تصویره
رارسیږه رارسیږه لویه پیره!

چه‌خط له‌تورو تهکو ناآشنا وی
ورسره به‌دتور خطو څه سودا وی ؟
چه‌بینانه وی‌نو یار کله‌لیدی‌شی ؟
چه‌بی‌ذوقه‌وی‌ګلزار کله‌لیدی شی ؟
زه‌قام ګورم چه‌پریشان دی‌نو پریشان شم
سرپه‌آه اوپه‌ژړا او په افغان شم
راسره بیاآسمان وژاړی له‌ویره
رارسیږه رارسیږه لویه پیره !
لوی انسانه اې‌باباعبد الر حمانه !
دېښو خاوره دې او چته له آسمانه
داخلاص بلند مقام لره ختی شې
په‌یوه قدم ترعرشه ر سېدی شې
اې‌بابا !دخپل پرېوتی‌قام له درده
کله؟ چا؟ در ته‌ویلی‌څه؟له‌د رده
ای‌فقیره !ای‌دزړودملك امیره !
رارسیږه رارسیږه لوبه پیر ه !
بند په‌بندی جلاکړی ظالمانو
ګوریه کور سره ویشلی شیطانانو
لاتراوسه شته‌تهر ی‌دغاصبانو
«په‌سبب دظالمانوحاکمانو»
«ګوروادراوپېښور درې واړه یو دی»
خوارپښتون ،لوخ او نهر درې وا ړه یو د ی

کم نصیبه‌دی له‌علم‌اوله تنویره
وارسیزه وارسیزه‌لویه پیره
په محکوم پښتونستان ظلم‌اوزور دی
دژوندو لەژوندانه‌څخنې زړه‌توردی
په‌آزاد پښتونستان گولی‌ورېږی
اوردظلم اواستعمار پکښې بلېږی
عفوه‌غواړم - په‌دې حال‌باندې څوړېږم
ترخې وایم - له موضوع نه بهر کېږم
را رسېږه بختا نی ته لویه پیره!
دپښتو ژبی‌ادب کښې عالمگیره!

کابل - پښتوټولنه - د۱۳٤۰ دحمل ۱٦

☆☆☆

ډیوه

لګولې یم خوارانو دهقانانو
بس رڼا یمه په کور دغریبانو
توره شپه کښې ئې امید غوندې ځلېږم
رڼومه تیاره کور دمز دورانو
یم دګلی په حجرو او په جومات کښې
رفاقت کښې دمستانو اوشیخانو
ما په شپو په شپو ژړلی د یو از ې
ادیره کښې په مزار دشهیدانو
نازونیاز ، ګلې ماڼې ، دزړه رازونه
اورېدلې مې کیسې دمینانو
په خوږ و خوږو خبرو مرکو کښې
یم شاهده په یاری کښې دیارانو
دعاشق په استقبال کښې سوزم ځکه ـ
دپتنګ یمه مرکز دارزوګانو
زه سوزېږم اورڼاشم بل دپاره
یم تیاره کښې رهنما دګمراهانو
په پرتوکښې مې دزړه مطلب موندلی
تل یو هانو ، حکیمانو ، شاعرانو
بغتانیه زه ددې خاورې ډیوه یم
چه بلېږمه په کور کښې دخوارانو

کابل ـ پښتو ټولنه ـ د ۱۳٤۰ د حمل ۲۵

گرانه

سیل دچمن ته ځي نوماله سره گلونه راوړه
خوږو وږمو په غېږ کښې ښه ښايسته رنگونه راوړه

زه دغمو په کوټنۍ کښې انتظار دي يمه
لاړشه! خوماته دخوښيوسوغاتونه راوړه

زماسلام بلبل ته وايه چه همرازدی زما
بڅښنه غواړم! دهغه هم پيغامونه راوړه

دښاپېرود باغ ماليار! دابل عرض مې واوره
غېږ دنسيم کښې دلو نگوڅه بويونه راوړه

په باغ کښې هر څه چه وښکلي، ته يې ښکل کړه يوځل
درنگينيو دي قيصوسره خوندونه راوړه

په شرشرو، په ابشارو، په منظرو کښې اشنا
که زه په يادشوم، نولطفاً هغه يادونه راوړه

هرڅه چه راوړې بختاني به يې په سترگو منی
ځارشم! يوڅه ورته دقام دزړه حالونه راوړه

کابل- پښتوټولنه -د ۱۳۴۰ دجوزا -۲٦-

د کابل سیند

دا یشیاد زړه له لوړو لو یو غرونو وو ځی
ددغو، لو یو لوړ وغر وله لو یو زړونو وو ځی
چیر ته چه تل زلی او واوري ، بار انونه اوری
عطر ونه اوری اوله هسک نه ر حمتو نه اوری
ددې اوبــه ترو نو لاندې یې رواني وی تل
نفس تنګی نه وی، غوټۍ یکښې خنداني وی تل
صاف او سو چه پاک جنتی حورو غلمان دغلته
تل او سیدلی ، تل او سیږی به افغان د غلته
پاکې اوبه له داسې پاکو جنتو نو وو ځی
دا یشیا دزړه له لو یو لوړوغرو نو وو ځی
دادلو ګر، نجراو، پا نشیر او ګلبهار په سیمو
دادپغمان ، لغمان، کو نړ او ننګرهار په سیمو
دهیندو کښ ، سالنګ، شیبر سړو سینو نه وو ځی
دادسپین غراود کو نړ غرله سردر ونه وو ځی
او نی، شتل اودغور بند نه ځی یو والی سره
داباسین سره ګډیږي پښتنو الی سره
دا نهه جر یان دهنګیالیو لهکورو نو وو ځی
ددغو لوړو لو یو غروله لو یو زړونو وو ځی
دغو اوبو نه عاشقانو عارفانو څښلی
دحق په لاره کښې غاز یانو شهیدانو څښلی

د هر قام پر ستوه بشردوستو انسانانو څخه بلی
پخپل وطن باندې مینه افغانانو څخه لی
د که له غیرت او افتخارنه افسانې دی پکښې
رنګکه په ایثار او قربانۍ کښې کارنامې دی پکښې
افغانی سینه د مېړ نتوب له سنګرونو وو څی
دا یشیا دزړه له لوړو لویو غرونو وو څی
دزمانې غوندې روان دی له مو جو نو سره
له مداو جزر له توفان او سیلابونو سره
په یو رنګ ښکاری خو غور څنګه یې نوی رنګ سره وی
هره شپه یې په مستی نوی غور ځنګ سره وی
څان یې ساتلی، د خودی، په نوم، درام لوبوی
که دتغیر او تحول عالی مرام لوبوی ؟
زوړ کیفیت سره په نوو لباسونو ووځی
دد غو لویو لوړو غرو له لویو زړونو ووځی
مخکښې روان دی او تر شا بېرته کتل نه کوی
دمه یې نشته او څه فکر د منزل نه کوی
استراحت نه پېژنی تل اضطراب لټوی
په یو حالت نه پاته کېږ ی انقلاب لټوی
نوی افغان دا بادی یو ښه الهام یې ګڼی
نوی پښتون دازادی یو ښه پیغام یې ګڼی
په غوږ یې اورم دافریادیې له موجونو و وځی
دایشیادزړه له لویو لوړو غرونو و وځی

هره قطره یې هر غلره ده پښتون دپاره
آب حیات دی په کار یزی دژوندون دپاره
لکه دناوې چه جراوشی شورماشورسره ځی
سرې او به دی، خوتیزی کښې بیا د اور سره ځی
که مخ په لوړه شی ،میرو نه گلستان جوړوی
که مخ په ځوړه شي ،نوشمع شبستان جوړوی
دزمانې بچی له هر راز گرد شونو و ځی
دد غو لوړ ولویو غروله لویو زړونو و ځی
دانا پوهی د. که دسیند په غاړه تزی وی خوك
افسوس افسوس که درشې په خوا کښې وزی وی څوك
«افغانی سیند» په افغانی نغمو کښې داغږول
سحر ما ښام یې له غفلته افغانان ویښول
افغانیت یې «درو نټه» کښې احترام ته پا څهد
په «سروبی» اوپه نغلو کښې یې سلام ته پا څهد
د«بختانی» ارمان له داسی نهضتو نوو ځی
دا یشیادزړه له لوړولویو غرونو وځی

کابل ـ پښتوټولنه ـ ۱۳٤۰ دسرطان (۱۰)

زلمیه

(۱)

دما سکو او واشنګټن نه خبر داره!
دکابل او پېښور نه همخبر شه
انګرېزی او روسی ژبې یا دوه، خو-
ته پښتون یې دپښتو په لارې ورشه!

(۲)

ازادی باندې عاشقه! که صادق یې
له زندان دخو فـا وطمعې نه بهر شه!
له ذلت او له خواری نه مه وېرېږه
دخپل قام وطن نوکرشه توانګرشه!

(۳)

دسرو زرو په سودا کښې رنګ دې زېړ شو
بندګی دزرو پرېږده، ته سره زر شه
غم دخپلې او دتن کښې بیخی زوړ شوې
غور دزړه کړه بې زړه مه شه، ښه زړه ورشه

میوند وات - د ۱۳٤۱ دحمل (۳)

(۱۸۰)

لا فه مه کړه

چه په کارمې ځوك په قارشي نو په کار شي
چه بیکاره ځوك په قارشي نو بیکار شي
زه منم ! زمادی غوږ د تا وولو
دسپتار په غوږ تاوی نغمه په تار شي
بد کاران که مې زړه مات کړی ملامت د ی
دا ښه کاردی که په مینه مې زړه ښکار شي
سود پر سته اته دمینې لافه مه کړه
محبت که بازاری شي نو ازارشي
داشنا بېغمی ، غم دپاسه غم دی
غم به خوارشي که اشناد چا غم خوارشي
چه عاری شي دوطن له فکر اوخیاله
دا اشعار دبختا نی به ورته عار شي

کابل ـ د ۱۳٤۱ دثور (۱۰)

★★★

غزل

کړېږم په سره اورکښې د جانان له غمه زه
تر څو به نه خلاصېږم د هجران له غمه زه

د وصل ، د هجران ، د تغافل ، د التفات ،
د یار غمو . بېغمه کړم د ځان له غمه زه

هر څو به اندازه وي انتظار له حده تېر شو
ګلرخه ! یو ځل راشه ! یم پرېشان له غمه زه

لا څو نه کمې وتړې د زلفو په زنځير
فارغ به شم د قيد او د زندان له غمه زه

تر مهر او تر وفادې سر و مال به صدقه کړم
څو خلاص شمه د سر او د سامان له غمه زه

بې ځتا د عشق له غمه په ما سل غمونه نور دي
خو د پرېم زهير شوی د افغان له غمه زه

له نازه چه ته نه اخلې سلام د بختا نی
په کبر او په جفادې یم ستومان له غمه زه

کابل - میرویس مېنه - د ۱۳٤۱ قوس (۲٦)

درحمان باباکلیزي مشاعر ي ته:

څوك يم؟

انځور گر يم دبهار اودخزان
په خندا اوپه ژړا اوپه ارمان
دغوټۍ په شان خندامې زړه چاودون دی
يم په پټه خوله دبوی غوندي پريشان
خوشبويی اوتازگی اورنگينی کښې
ښايسته گل يم دفطرت په گلستان
دشهيد دزړه پرهار نه ټو کېدلی
تور او سور زرغون بيرغ يم دافغان
رڼړيا کښې دعظمت سند رې وايم
نوی نسل ته دتېرو ارمغان
که دعشق دقربانيو يويا دګاريم ؟
دداغلی مين زړه يو پټ ارمان
ياپې کسه پريوتلی له نظره
يوخود رو په غوندې گل د بيابان
لړ زېدلی ترمې ترمې نری با دته
ترڅپو لاندې دانسان اود حيوان
که نسيم يم په وطن کښې آواره يم
وينهو مه ويدې پيغلې اوز لميان

تحول په ژوندانه کښې راولم زه
په‌سهار کښې ېږې جرس یم دکاروان
اباسیند دژوند نه چه په غورزنګ شی
ور سره په غور زنګو شمه روان
اضطراب کښې انقلاب پیدا کومه
نه ځائیږم بیاپه زمکه اوآسمان
«په یوه قدم ترعرشه‌پورې رسم»
داجهان مې‌دی دمنډې یو میدان
که‌نغمه دآزادۍ اودنهضت یم؟
دولس دکار ناموړنګین عنوان
بې پردې او په‌ډېر دو کښې هومره ژاړم
ځوځه‌وا ړوم دورو ته‌ژدود ان
بختا نیه ! ته مې پېژنې ؟چه‌څوك یم؟
شاعری کښې یو شاګرد یم‌درحمان

کابل ـ د۱۳۴۲ د حمل(۶)

داجمل ختك اقتفاء:

زلمی شاعرته

پهسر کښې څه نیشه دانقلاب لرې که‌نه ؟
رګو کښې توده وینه دشباب لرې که‌نه ؟
تا رې وهې پهجار څه‌ز‌ه عاشق یم ز‌ه‌صادق یم
په‌زړه کښې‌هم دمینی‌اضطراب لرې که‌نه ؟
رباب ، کباب ، شراب دې‌قافیه ده دغزلو
دقام‌په درد وغم کښې زړه‌کباب لرې که‌نه ؟
په‌زیره دبابا پورې چه‌تو کې مسخرې وی
دزلفو جال کښې ګیره !ورته تاب لرې که نه ؟
اجمل ګو زنې وهلی‌دی په جهل دپاکستان کښې
تې چیغو دغیرت ته څه ځواب لرې که نه
ته توره دباباوې شوې په وینو مې ګنګړه
جوهر ته دې لږ پام وکړه!څه آب لرې که نه ؟
په‌دې باندې ونه شوه چه شاعرې بختانیه !
په باب د پښتنو الی کښی کتاب لرې که‌نه

کابل ـ د۱۳٤۲ د جوزا (۳۰)

(د کتاب‌پای)

دبختاني پېژندنه

عبد الله بختاني د ملا اقا جان زوی د ننگرهار د سره رود دکلی اوسېدونکی دی .

په ۱۳۰۵ ه، ش کښې د سره رود په چارباغ صفا کښې زېږېدلی دی شپاړس کاله یې د ننگرهار په ولسی مدرسو کښې په خصوصي ډول په پښتو ، پارسي او عربي ژبو دادبي، اجتماعي او مذهبي متداولو علوهو تحصیل کړی دی. دی په پښتو او پارسي غزلې ویلې او په دواړو ژبو نظم او نثر لیکي . په عربي کښې مطالعه لري او ترجمه ترې کولای شي. روسي ژبه اوس یادوي .

کاراو خدمت :

د ۱۳۲۵ د حمل په میاشت کښې د ننگرهار د ولایت د پوهنې دلوی مدیریت داجرا ئیې کاتب شو ،

د ۱۳۲۶ په عقرب کښې د ننگرهار د پښتو ژبې د کورسو ښوونکی مقرر شو. (٤ کاله او ۳ میاشتې)

د ۱۳۳۱ په اسد کښې د پښتو ټولنې په مسلکي غړیتوب ومنل شو او ورسره د «زېری» دادبي او تعلیمي جریدې مسئول مدیر هم ؤ. (۳ کاله او ٤ میاشتې)

د ۱۳۳٤ په قوس کښې د ننگرهار د مطبوعاتو دلوی مدیریت مرستیال او د پښتو کورسونو آمر شو (٤ میا شتې)

د ۱۳۳۵ په حمل کښې د ننگرهار نشراتي موسسې او د اتحاد

مشرقی (ننګرهار) دورځپاڼې مرستیال وټاکل شو. (یو کال او ٦ میاشتې)

د ۱۳۳٦ په میزان کښې د «ننګرهار» د ادبي او ثقافتي میاشتني پښتو مجلې مسئول مدیر مقرر شو. (یو کال او لس میاشتې)

د ۱۳۳۸ په اسد کښې د مطبوعاتو د مستقل ریاست د نشراتو د لوی مدیریت غړی شو. (٤ میاشتې)

د ۱۳۳۸ د عقرب په شلمه کښې د ننګرهار د نشراتي موسسې آمر او د «ننګرهار» ورځپاڼې مسئول مدیر وټاکل شو. (نهه میاشتې)

د ۱۳۳۹ د اسد په شلمه کښې د «ننګرهار» د مجلې مدیر شو.

(٤ میاشتې)

د ۱۳۳۹ په جدي کښې د «خېبر وږمې» په درجه د پښتو ټولنې مسلکي غړی ومنل شو.

او د ۱۳٤۲ په حمل کښې یې د «څېړنیار» درجې ته ترفیع وکړه او تر اوسه همدلته کار کوي.

اثار:

په ژبنیو، ادبي او اجتماعي موضوعاتو کښې د زیاتو مقالو نه سربېره د دغو اثارو خاوند هم دی:

۱ ـ شعر او ادب. په ۱۳۳۲ کال کښې د پښتو ټولنې له خوا چاپ شوی دی.

۲ ـ پښتني خوي وله. په ۱۳۳٤ کال کښې د مطبوعاتو د مستقل ریاست له خوا چاپ شوی دی او د ۱۳۳۷ کال په مطبوعاتي جوایزو کښې یې د «رحمان بابا» جایزه اخستې ده.

۳ـ دزړه راز. دده داشعارو لومړی ټوک دی چه په ۱۳۳۵ کال کښې دمطبوعاتو دمستقل ریاست له‌خوا چاپ شوی دی او دهمدې کال په مطبوعاتی جوایزو کښې یې د«خوشحال خان خټک» جایزه اخستې ده.

٤ـ پښتانه دعلامه اقبال په‌نظر کښې. په ۱۳۳۵ کال کښې د پښتو ټولنې له‌خوا چاپ شوی دی.

٥ـ عبدالرحیم «رحیمی». دمرحوم رحیمی سوانح‌او آثار دی چه په ۱۳۳۵ کال کښې دتاریخ ټولنې چاپ کړی دی.

٦ـ خوږې ترخې. دادبی نثرونو او لنډو پارچو یوه مجموعه ده چه یوه برخه یې په کابل مجله کښې چاپ شوې ده.

۷ـ راز. دده داشعارو دوهم ټوک دی چه اوس د پښتو ټولنې له‌خوا چاپ شو.

۸ـ سید وملنګ یو اجتماعی او تربیوی کومیډی ډرام دی.

۹ـ دمرحوم ملنګ جان (ولسی شاعر) داشعارو دمجموعې راټولول او ترتیب چه په ۱۳۳۵ کال کښې د پښتو ټولنې له‌خوا د «خوږې نغمې» په‌نوم چاپ شوی دی.

۱۰ـ خوږې نغمې. دملنګ جان د نورو اشعارو بله مجموعه.

۱۱ـ دتمباکو زیانونه. له عربی نه دسید عبدالغفار هاشمی د «مصایب الدخان» پښتو ترجمه.

۱۲ـ علمی ازمېښتونه په ساده اسبابو. په ۱۳٤۱ کښې ددارالتالیف دریاست په فرمایش په پښتو ترجمه شوی او ددغه ریاست له خوا چاپېږی.

۱۳ـ لنډې کیسې. دکیسو یوه مجموعه ده چه چاپ ته تیار ده.

۱٤ـ تازه ګلونه. دمعاصرو پښتنو شاعرانو دغوره شعرونو مجموعه.

سمون

مخ	کرښه	ناسم	سم
۲٤	۱۲	پهٔ دېر	پهٔ دېرو
٥۱	٥	پسوته	پېسوته
٥٤	۲	نودسر	نوسر
۷۰	۸	ځی	نه ځی
۸۳	۷	بې تیاز	بې نیازه
۹۱	٦	نه	نه و
۹٦	٤	دو ي	دهٔوي
۱۰۸	۱۱	بالښت	نالښت
۱۱٦	۹	دي	دی
۱۱۷	۱٤	غورزنکونو	غورزنکو
۱۲۰	۷	پټنک	پتنګ
۱۳۱	٥	سووزی	سوزی
۱٦۱	۱۳	دوړوو	دوړو
۱٦۱	۱٤	سر	سره
۱٦۲	۸	اخل	اجل

PROPERTY OF ACKU
2111

عبدالله «بختانی»

دولتی مطبعه